# د مینې روغتون

## د نړۍ طنزونه

Ketabton.com

لیکوال: بېلابېل

ژباړن: علم ګل سحر

www.ketabtoon.net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| | |
|---|---|
| مقررات | رالف وینر (آلمان) |
| سړی او لېوه | خریستوپلیتیف (بلغاریا) |
| د مینې روغتون | عزیز نسین (ترکیه) |
| نیمکرغې | ایرژي ستانو (چکسلواکیا) |
| قلمونه | ولادز یمژشیسلوفسکي (پولنډ) |
| بهانه | میلي پوپوفسکي (یوګوسلاویا) |
| بیزو او هېنداره | چلکاس (بلغاریا) |
| جایزه | و ، شکالین (پخوانۍ شوروي) |
| څه وکړم عادت شوی مې دی | رادوي رالین (بلغاریا) |
| څه معلومه ده ؟ | واسیلس الکساکیس (فرانسه) |
| د ماتې خواشینې | ارت بوخوالد (امریکا) |
| د مینې په خاطر سزا | محمد العطیبه (عربستان) |
| زما زوی که د تاسې ؟ | د ینتون فورد (انګلستان) |
| په بانک کې | دیوردمیکیش (هنګري) |
| د پیغام معجزه | هری شنکر پرسات (هند) |
| د یوې مینې داستان | شګداین سیندایوش (منګولیا) |
| نوښت | ماکس ګونتر (سویس) |
| د ورېږې د ماکولاتو معتمد | خریستو پلیتیف (بلغاریا) |
| حیرانوونکې میوه | راسینستلاف دورمن (پخوانۍ یوګوسلاویا) |
| سمپوزیم | انجیلا ګالي دوسینا (ایټالیا) |
| څنګه مرکه کوو | الوارودی لامنګسیا (هسپانیا) |
| لنډ لیکنه ستونزمنه ده | سیمون اندورسکي (پخوانی شوروي اتحاد) |
| دموکراسي ممنوع | عزیز نسین (ترکیه) |
| دواړ قانون | مارک ازوف ،ولادیمیر تیخوفسکي (روسیه) |
| داهم ګټه نه لري | مارک زاخاروف (پخوانی شوروي ) |
| قانوني چلوونکی | ګریکوري ګورین (روسیه) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مقررات

د ریل د تمځای د سلماني په سالون کې نایي راته وویل:

- ببښنه غواړم ، نه شم کولای تاسې ته کوم خدمت وکړم ، زه حق نه لرم ستاسې ږیره وخریيم ، مقررات اجازه نه راکوي.
- آخر ولې ؟ زه پیسې درکوم.
- د مقرراتو له مخې موږ د هغه چا سر او ږیره اصلاح کوو ، چې د ریل ټکټ یې اخیستی وي او د سفر نیت ولري ، خو تاسې لکه څنګه مو چې وویل د سفر نیت نه لرئ ، د ګاډي ټکټ مو هم نه دی اخیستی.
- ږیره مې ډیره رسیدلې ، یوازې زما لپاره استثنا ومنئ.
- نه خیر عالي جنابه ، ډېر و ببښئ ، مقررات اجازه نه راکوي.
- زه د سلماني له سالونه راووتم ، مخامخ د ریل د ټکټونو پلورنځي ته ورغلم ورته و مې ویل:
- آغلې یو ټکټ.
- چېرې ځې ؟
- مهمه نه ده ، چې هرځای وي ، یوازې یو ارزانه ټکټ.

ټکټ پلورونکې په حیرانتیا راته وکتل ، وې ویل:

- ځه ښاغلیه ، مسخره ګي مه کوه ، خپل ساعت تېروې.

ما د مسئلې په هکله ورته وویل ، دغې میرمنې زما رسیدلې ږیرې ته وکتل ، ویې خندل ،زړه یې وسوځید ، هغې وویل:

- ډېر ښه ، نو د نږدې ځای ټکټ درکوم ، چې ارزانه وي ، دغه دی د ریبنتیسه ټکټ ، اتیا فینکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټکټ مې واخیست ، په خوښۍ د سلماني سالون ته وروګرځېدم و مې ویل:

- دغه دی ټکټ ، اوس اجازه ده ، چې کښنم ؟
- هو کینئ ، خو په ریل کې ، نه د سینګار پر چوکۍ
- اخیر ولې ؟ زه ټکټ لرم ، مسافر بلل کېږم.
- خو تاسې څو شېبې د مخه وویل ، چې د مسافرت نیت نه لرئ.
- په تا څه اړه لري ، کیدای شي ریبنیتسې ته ولاړ شم ؟

نایي یا دم وویل:

- زه اوس ستا ستونزه حل کوم.
- هغه بلې خونې ته ولاړ ، له څو دقیقو وروسته بېرته راغی و یې ویل:

ستاسې ستونزه حل شوه ، ما د ریبنیتسې له تم ځای سره خبرې وکړې په ریل کې کښنه ، هلته ولاړ شه ، او رږيره دې وخرییه. خو پام کوه چې ټکټ ایسته و نه غورځوې ، ځکه د مقرراتو له مخې که تاسې د ټکټ پارچه و نه لرئ ، هغه نه شي کولای د تاسې خدمت وکړي.

لیکوال: دالف وینر (دموکراتیک آلمان .پخوانی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرې او لېوه

يوه ورځ يو وږی لېوه په واوره او ساړه باد کې له ځنګله راووت او يوه کلي ته نږدې راغی ،د کلي په يوه کور کې يې د يوه بزګر په پسونو سترګې ولګېدې ، په دې کور کې ډېرو نورو وريو هم رمباړې وهلې.

لېوه په بيړه هلته ورننوت ، يو ورى يې وليد ، هغه يې ځنګله ته وتښتاوه ، ورى ډير کوچنى او ډنګر و ، خو خوارکي لېوه دومره وخت نه درلود چې تر ټولو مزی انتخاب کړي.

لږ وروسته د کلي سپي او کليوال چې پر له پسې ډزې يې کولې او چړې يې په لاسونو کې وې په لېوه پسې په منډو شول. هغوی لېوه ژوبل کړ ، خو لېوه په ډېرو خواريو ډنګر ورى خپل کور ته ، چې په غره کې يو غار و ، ورساوو.

ورى د لېوه بچيانو ته نه بس کېده ، لېوه له نا چارۍ په وږي نس ويده شو.

په سبا بيا لېوه ډېرې لوږې مجبور کړ ، چې کلي ته ولاړ شي ، لېوه د ونو له منځونو پسونو ته کتل. په دې وخت کې يې وليدل چې دوه سړي  چړې په لاس د پسونو خونې ته ننوتل ، دوه مزي وري يې راوايستل ، حلال يې کړل او پوستکي يې ترې وايستل ، لېوه په حسرت خړ خړ ورته کتل ، وروسته يې اوربل کړ ، وري يې کباب کړل. وري يې ميلمنو ته په پتنوسونو کې کېښودل. ميلمنو ته موسيقي غږول کېده ، دوی غوږ ورته نيولی و ، جامونه يې پورته کړل او ويې ښل ، د کور خاوند ته يې ويل: «مننه» او د کور خاوند ورته ويل: «د منني وړ نه دي» لېوه د دغې صحنې په لېدو سره له ځانه سره وويل:

دغه انسانان هم عجيب موجودات دي ، د هغه کار په خاطر چې موږ يې کوو په موږ پسې ټوپکې او چړې را اخلي ، سپې را پسې خوشې کوي ، او موږ وژني. خو دغه کار چې بيا دوی کوي موسيقي هم ورته غږول کېږي.

ليکوال: خريستوپليتيف (بلغاريا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مينې روغتون

- الو... د چيغو او نارو ورځپانه ده ؟
- بلې مهرباني وکړئ.
- لطفاً د جنايي برخې خبريال ښاغلی جعفر راکړئ.

د ورځپاڼې سکرترې ماته مخ را واړاوو ، ويې ويل:

- ښاغلی جعفر... های ښاغلی جعفر راشه په ټيليفون کې خبرې وکړه ، لکه چې د پوليسو له ادارې څخه څوک درسره خبرې کوي.

چې غوږی (ګوشي) مې راواخيسته و مې ويل:

- مهرباني وکړئ زه جنايي او قضايي خبريال جعفر خامتاپال يم.
- سلام ښاغلی جعفر!
- سلام څنګه ياست ؟
- بد نه يم ، ګوره ستا لپاره يو خبر لرم.
- څه خبر ؟
- نن شپه غواړو يو کور کلابند کړو او هلته ورننوزو ، که دې خوښه وي ته هم د نورو مخبرانو غوندې هلته واوسې ، نو په نهو بجو د پوليسو ادارې ته ځان راورسوه.
- دا کور د چا دی ؟
- غواړو د ميرمن انژلا کور ولټوو.
- خومره ښه شوو ، چې ومو ويل که نه زه به هم نن شپه دنيول شويو کسانو په ډله کې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- روښانه خبرې وکړه ؟
- نن شپه مې غوښتل د میرمن انژلا کورته ورشم او ترې رپوټ جوړ کړم.
- ستا خوښه که غواړې له موږ سره ولاړ شه ، که نه نو تر موږ مخکې ولاړ شه او هغلته منتظر اوسه.
- یه له تاسې سره ځم ، مګر تېره اوونۍ پولیس د میرمن انژلا کورته نه ول ورغلي ؟
- هغه کور یې چې په (ماچکار) کې و ، د هغه دروازه مو وتړله ، اوس مو واورېدل چې په بل اپارتمان کې یې اړولي او له هغه یې د فساد ځاله جوړه کړې.
- ډېر ښه زه هم درسره ځم.

د ورځپاڼې مسوؤل سکرترې وویل:

-ښاغلی جعفر هیله کوم څه چې وینې هغه ولیکه ، له ځانه څه مه پکې زیاتوه.

-پوه نه شوم ، مګر تر اوسه بل ډول و ؟ زه خو چې څه وینم هغه لیکم.

-کله کله مبالغه کوې ، ته ښه پوهېږې له مسؤول مدیره نیولې د سپورټ تر خبریاله ، له سیاسي خبریاله نیولې تر ښاري خبریاله ټول له خپله ځانه څه زیاتوي ، لږترلږه ته داسې مه کوه.

- ژمنه کوم چې چاخانبازي به نه کوم.
- یو بله هیله هم لرم.
- مهرباني وکړئ.
- هغه دا چې ډېر ژر خبر راورسوه.
- په سترګو ، هڅه کوم لومړی خبریال و اوسم چې د پولیسو د دغې بریا خبر تاسې ته در کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره په نهو بجو د پولیسو په اداره کې وم ، له ما پرته د پنځو مجلو پنځه جنایي خبریالان له خپلو ځانګړو عکاسانو سره هلته ول. له شپږو نورو پولیسو سره د پولیسو په سور رنګي موټر کې سپاره شوو له لږ واټن وروسته خبرې پیل شوې ، یوه خبریال وویل:

- څو ورځې د مخه مې سخت ساړه وشول ، ټول بدن مې درد کوي.

یوه پولیس زیاته کړه:

- زه هم ناروغ یم له لسو کالو زیاته موده کېږي ، چې د پښو له روماتیزم څخه ځورېږم.

یوه بل خبریال وویل:

- زه پوهېږم څومره کړاو تیروئ ، ځکه ماهم ډېره موده دا ناروغي لرله ، د علاج لپاره مې هر څه وکړل ګټه یې ونه کړه ، تر څو د یوه دوست په لارښوونه بیخې جوړ شوم.
- ته وخدای ماته هم ووایه ، ښایي زه هم ښه شم.
- مچۍ خو پیژني ؟ همدا معمولي مچۍ ؟
- هو ، پیژنم یې.
- د شاتو مچۍ نه یادوم...
- دا معمولي مچۍ یادوې ؟
- نه هغه هم نه ، زه هغه نورې غټې مچۍ ښییم ، چې خر مچۍ یې بولي.
- ښه دوام ورکړه.
- ددې لپاره چې د پښو روماتیزم دې ښه شي ، باید وګرځې او ددغو مچیو ځاله پیدا کړې ، پښې به لوڅې کړې او تر نور بدن به دې برستن تاو کړې او د مچیو په ځاله کې به تر هغه لرګي ووهې څو ښې په غوصه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا مچۍ لکه د مورړ غټان داسې دي ، چې لړ تکليف او آزار ور ورسېږي ، ډېر ژر د سړي خدمت ته رسېږي ، کله چې مچۍ په قار شوې ، ټولې ستاپه پښو يرغل کوي تر څو چې کولای شي ستا پښې چیچي.

- زومړکې ډېر درد به لري ؟

- والله په درد سره خو نو درد لري ، مگر زه خبريال يم ، د ورځې سل ډوله نيش را رسېږي ډېر يې پاژاب نه کړم. خو نه پوهېږم چې ته به مقاومت وکړې که نه ؟

- ښه نو وروسته د سړي روماتيزم بيخي ښه کېږي ؟

- هو بيخي ښه کېږي ، زما کينې پښې  روماتيزم درلود ، هيڅ مې شورولای نه شوای او ښۍ پښې به مې د کينې پښې دنده هم سرته رسوله ، خو د مچيو له نيش وهلو وروسته داسې پياوړې شوه ، چې ښۍ پښه ورته هيڅ وه په داسې حال کې چې ښۍ پښه مې سوکه سوکه په لاره تله ، کينه پښه به مې په منډو وه...

يو بل پوليس وويل:

- ډير سخت کار و...

- صحيح ده ، زه مجبور وم تل په ښۍ خوا ولاړ شم ، ځينې وخت به مې نه شوای کړای ځان کنټرول کړم ، د ښۍ او کينې پښې تر منځ په سيالي کې به زه پر ځمکه ولوېدم.

- بيا څنګه شوو ؟

- پام مې شو چې په هيڅ ډول د کينې پښې مخه نه شم نيولای د پرتاګه په کيڼ جيب کې مې د مطبوعاتو قانون کېښود ، له هغې ورځې وروسته يې حرکت ورو شو.

ټولو وخندل ، قضايي خبريال چې متوجه شو چا يې په خبره باور و نه کړ ، جيب ته يې لاس کړ د رسنيو قانون ، يو کتاب يې راويوست ، ويې ويل:

- دغه دی هاغه کتاب چې ومې ويل.

يوه بل مامور د خپلو پښو د تلو له ميخو سر ټکاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تاسې نه پوهېږئ دا د ښځو میخچو ځومره سر خوږی راته پیدا کړی دی ، ما مخکې د قاچاقو په ځانګه کې کار کاوو ، خو ددغو لعنتي میخچو له لاسه بلې څانګې ته تبدیل شوم.
- دلیل یې داوو ، چې نه مې شوای کولای په قاچاقچیانو پسې منډې ووهم. اته کاله چې هلته وم ایله بیله مې یو قاچاق وړونکی ونیو.
- حتماً د هغه د ښځو میخچې ستا د ښځو تر میخچو غټې وې.
- نه نه هغه میخچې نه لرلې خو ما ونیولی شوای.

هغه خبریال چې د روماتیزم دعلاج لاره یې ښوولې وه ، وویل:

- د دغو له منځه وړل هم آسانه دي.
- وروره که کیدای شي ووایه ، ټول عمر به دعا درته کوم.
- باید ځلوېښت نر غنې ونیسې.
- هو درته غوږ یم.
- خو بایده یوه شې چې ددغو غنېو رنګ سور وي ، چې دا غنې دې په اوکلۍ (هاونګ)کې ښې میده میده کړې ، لاس ته راغلې ماده به د میاشتې په اوله جمعه هغه وخت چې ملا اذان کوي پخپلومیخچو کېږدې ، خو پام دې وي چې تر دریو ورځو زیات پرې پاتې نه شي ، که نه د ښځو روغ ځایونه به دې هم ورسره یوسي.
- خو ما تر اوسه سور رنګي غنې نه دي لیدلي.
- سمه ده ، غنې خاورې رنګې وي خو تا چې ځلوېښت غنې ونیولې باید رنګ یې کړې هغه هم سور رنګ.

یوه خبریال د خپل زړه لا ناکارې شکایت درلود ، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زما زړه هم کمزوری دی ، په هیجاني وختونو کې مقاومت نه شم کولای آن کله چې د سینما په تالار کې کوم هلک او نجلۍ ژوندۍ سینما پیل کړي زړه مې درېږي د لوڅو ښځو په لېدو چې د سیند ساحل خواته یې وینم زړه مې نارامه وي ، اصلاً مې زړه ډېر کمزوری دی.

هغه خبریال چې د ټولو لپاره یې درمل ښودل ، وویل:

- دا چې ته ډېر مهربانه زړه لرې ،دا عوارض پیدا کوي البته د علاج لاره یې شته.
- هیله کوم ووایاست.
- تاسې باید زموږ د یو داسې هېوادوال له وینې څخه لږ تر لږه څلورو ګوندونوته تللی وي او ببرته یې پرې ایښې وي ، سل کاله یې ددې هېواد له خارجي او داخلي سیاست سره سروکارلرلی وي ګټه واخلئ. تاسې باید د ورځې شل لیتره دغه وینه ځان ته پیچکاري کړئ تر څو مو زړه د ډېرې غوندې کلک او سخت شي.

د جنایي پولیسو سرپرست وویل:

- ماشاء الله لکه تجربه کار ډاکټر داسې چلند کوې.
- پخوا ډاکټر وم ، خو ډاکټري مې پخپل ځای پرېښوده او خبریال شوم.
- ولې دې ډاکټري پرېښوده ؟
- دا چې و مې نه شوای کولای چې په یوه کال کې تر دریو تنو زیات هېوادوال ووژنم ، زما د طبابت دیپلوم یې راڅخه واخیست.
- څنګه جنایي او قضایي خبریال شوې ؟
- ځکه چې هیڅوک نه شي کولای د یوه ډاکټر غوندې د جنایتونو رازونه کشف کړي.

زموږ مجلس ښه ګرم شوی و چې د میرمن انژلا د اپارتمان مخې ته چې د فساد په ځاله تبدیل شوی و ورسېدو. ژرژر له موټره ښکته شوو ، د پولیسو په مسؤول پسې کورته ننوتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پولیسومشر د کور د لومړي پوړ زنګ وواهه ، یوې ښکلې میرمنې چې د خوب کالي یې اغوستې ول ، دروازه پرانیستله ، د پولیسو مشر ترې پوښتنه وکړه:

- آیا دلته هغه کور دی چې ټول کولای شي ترې ګټه واخلي ؟
- هو دلته دی ، مهرباني وکړئ ، دری ورځې د مخه د میرمن هاجر د کور دروازه پولیسو وتړله او هغه مجبوره شوه دغه ځای کرایه کړي او خپل کار ته دوام ورکړي ، ولې نه راځې ؟
- دا ځای ښه دی.
- غواړئ ووایم چې میرمن هاجر راشي ؟
- یه مننه ، موږ د میرمن انژلا په کور پسې ګرځو.
- د میرمن انژلا کور په دویم پوړ کې څلورم کور دی که میرمن سلما مو په کار وي په دریم پوړ کې کور لري.
- ډېر ښه ، له تا نه ډېره مننه.

کله چې هغې میرمنې دروازه وتړله د پولیسو مشر خپلې کتابچې ته وکتل ویې ویل:

- د تنظیم شوي پروګرام له مخې د سه شنبې په ورځ د میرمن سلما او چهارشنبې په ورځ د میرمن هاجر کور باید د پولیسو له خوا وتړل شي ، د پنجشنبې ورځ رخصتي ده ، د جمعې په ورځ د هاجر د نوي کور تړل په پروګرام کې ذکر شوي دي. موږ ته یې وکتل ویې ویل:

- هلکانو! ځنډ مه کوئ په بیړه د څلورم نمبر کور په لوري حرکت وکړئ پام مو وي ، چې په خاپوړو خاپوړو د میرمن سلما کورته ځان ورسوئ ، چیغې مه وهی.

کله چې د څلورمې شمیرې کور مخې ته ورسېدو د پولیسو مشر د دروازې زنګ وواهه ، یوې ښځې دروازه خلاصه کړه ویې ویل:

- له بده مرغه نه شم کولای تاسې ټول ومنم ، ځکه چې ماشاءالله د تاسې شمېر ډېر زیات دی او موږ دلته اته ښځې لرو ، څلور یې په رخصتي تللې دي ، تاسې باید د مخه ټیلیفون کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرپرستوویل:

- ته ولاړه شه میرمن انژلا راخبره کړه هغه ټول کارونه سموي ، موږ خو څه پردي نه یو.

هغه ښځه یوه شیبه وروسته بېرته راغله ویې ویل:

- میرمن وایي راځئ دننه.

میرمن انژلا چې موږ ولیدو ویې ویل:

- زه مو واقعاً خجالت کړم ، ما دغه کور یوه اوونۍ کېږي چې نیولی دی ، که زه خبره وای ، چې تاسې راځی ، کور به مو پاک او سم کړی وای.

سرپرست بې له دې چې څه ووایي د سر په اشاره یې د کور د کوټو د تلاشي قومانده ورکړه.

پولیسو د سترګو په رپ کې د کوټو ورونه خلاص کړل ټول کور یې تلاشي کړ.

میرمن انژلا بې غمه ولاړه وه ، څه یې نه ویل:

زه چې د هغې دومره بې غمي او بې پروایي حیران کړی وم ، ورنږدې شوم ومې ویل:

- بیخي عجیبه ده ، ستاسې کور تلاشي کوي او ته بې غمه ولاړه یې او ورته ګورې.

- ولې وارخطا شم ، زما په کور کې خو څه د غټانو او رهبرانو ښځې نشته ، چې ورته وارخطا شم.

- نوستاسې کاروبار ته زیان نه رسېږي ؟

- یه هیڅکله نه ، دا لازموږ په ګټه هم دی ، زموږ لپاره تبلیغ هم کېږي ځکه چاته چې زموږ پته نه ده معلومه ، پته زر پیدا کوي.

- خو په پام کې ده ، چې ستاسې کور وتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- فرق نه کوي ، سبا بل کور نیسو ، زه څلور کورونه او اپارتمانونه لرم ، یو یې څو ورځې د مخه وتاړه ، یو یې هم نن تړي. خو هغه نور دوه ورته معلوم هم نه دي پوهېږې په استانبول کې ولې د کورونو د اجارې مسله نه حل کېږي ؟

- اوس پوه شوم.

- دا زما نه نوي یم کور دی ، چې د پولیسو له خوا تړل کېږي. پریکړه مې وکړه د خپل سلم کور لپاره چې د پولیسو لخوا تړل کېږي ، یو ستر جشن جوړ کړم.

د انژلا د کور په لوی سالون کې دوه سړي او دوې ښځې وې له هغوی مې وپوښتل:

- څه ته منتظر یاست ؟

په بې اعتنایي یې وویل:

- نوبت ته...

له یوه او یا اتیا کلن سړي څخه مې وپوښتل:

- ته همه نوبت ته منتظر یې ؟

- هو زه هم نوبت ته منتظر یم ، څکه چې د ورځې نه شم کولای راشم ، د شپې راغلم ، چې علاج مې وشي.

- وموویل علاج ؟

- هو زه د معاینې او علاج لپاره دلته راغلی یم ، زه ساه لنډي لرم ، ډېرو ډاکټرانو ته ورغلم ، جوړ نه شوم د دغه ځای پته مې دوست راکړه راته ویې ویل:

- که زما مني دې ځای ته ورشه ، بیخي به جوړ شې. اوس به وګورم چې دوست مې څومره ارزښتمن معلومات لرل.

دوه ښکلې میرمنې چې په انتظار ناستې وې ، یوې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زما هم سترګې توربږي ، زما د يوې ګاونډۍ سترګې توربدې دلته راغله ، روغه جوړه شوه. اوس هم په اوونۍ کې دوه ځله راځي ، د دې ځای پته هغې راکړه.

- ولې ډاکټر ته نه ورتلې ؟

- پيسې مې يې له کومه کړې وای ، ټول ډاکټران د خلکو د جيبو خالي کولو ته ناست دي ، دلته پيسې هم نه اخلي آن لا نورې پيسې هم پسې ورکوي.

په يوه پوليس پسې يوې کوټې ته ورغلم ، يوه ۱۸- ۱۹ کلنه نجلۍ په يوه کونج کې په بد حالت ولاړه وه ، چې موږ يې وليدو ، ويې ويل:

- والله ما بد نيت نه درلود ، راغلې وم چې دلته د خپل زړه علاج وکړم. ډېر وخت کېږي چې زړه مې ناروغه دی.

ميرمن انژلا د نجلۍ خبره غوڅه کړه ويې ويل:

- که باور نه کوئ د وره د سر لوحې ته وګورئ «د زړه د ناروغيو ځانګړې سرويس».

په نورو دروازوهم «د سرطان علاج» «د سترګو د معاينې خونه» «د غوږونو د ناروغيو خونه» لوحې تر سترګو کېدې.

په دې وخت کې يوه ډېره ښکلې او نازدانه ښځه له يوې کوټې راووته د هغې ښکلې ښځې تر څنګ يو غټ او پياوړی سړی چې د سوک وهلو اتل ته ورته و ، روان و. په بيړه مې ځان هغې ته ورورساوو پوښتنه مې ترې وکړه:

- ښښنه غواړم ميرمنې کيدای شي ووایاست ناروغې مو څه ده ؟

- زه کومه ناروغي نه لرم ، کوښښ کوم ، چې هر څنګه کېږي د دغه ښاغلي د پښو د ميخونو علاج وکړم.

- نو تاسې د پښو د ميخونو متخصصه ياست...؟

- دغسې ده ، خو له دوو مياشتو زحمته وروسته وينم چې هيڅ بدلون پکې نه دی راغلی. وګورئ ټولې پښې يې ميخونه لري.

له هغه ښاغلي مې د هغه د پښو د ميخونو په اړه وپوښتل خو ځواب يې رانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې ښځې وویل:

- خبرې نه شي کولای.
- ولې ؟
- ځکه چې د سوک وهلو او غبرګې نیولو په رینګ کې یې دومره لغتې او سوکان خوړلي ، چې د خبرو کولو توان یې بایللی دی.

یو بل سړي چې په بله کوټه کې په بد حالت نیول شوی و ، تر دا بل ډېر غټ و ، خو کومه ښځه چې په هغه کوټه کې وه ډېره ځوانه او وره وه ، له هغه مې وپوښتل:

- ښه ته څه ناروغي لرې ؟
- زه روماتیزم لرم ، کله چې له ډاکټرانو نا امیده شوم دلته راغلم ، ما ساژ تر یوې اندازې اغیزمن دی.

په روماتیزم اخته پولیس وویل:

- لکه چې د ما د پښو روماتیزم بیخې ښه شو او لکه د لومړۍ ورځې غوندې کولای شم ښه په لاره ولاړ شم.

هغه سړي چې په پښو یې میخونه راختلي ول ، وویل:

- زماد پښو میخونه هم بد نه دي ، باید دوه درې واري نور هم راشم.

میرمن انژلا وویل:

ګورئ چې موږ له دغه کوره د بدلمنۍ لپاره کار نه اخلو ، بلکې کوښښ کوو د خلکو علاج وکړو. زه په دې کار سره د انسانانو خدمت کوم او دا ځای مې (د میینانو روغتون) په نوم نوملی دی.  پولیسو د ناروغانو له رخصتولو وروسته ښځې په موټرونو کې واچولې او حرکت مو وکړ.

په دې وخت کې یوه ناروغ ځان راورساوو ، ویې ویل:

- نو زموږ تکلیف به ځنګه کېږي ، اوس چې دوی وړئ زموږ په حال هم فکر وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دوی څخه یوه دا نورو ته وویل:

- مه خفه کېږئ ، زه بله پته لرم ، یا الله ځی چې هلته ولاړ شو.

دا چې ما ژمنه کړې وه د میرمن انژلا د کور د ترل کېدا خبر په پوره دقت ټکي په ټکي ولیکم ، دا دی و مې لیکه. اوس به وګورم چې میرمن مسؤول سکرتره دا جرات لري چې له لاس وهلو پرته یې چاپ کړي که نه...!

لیکوال: عزیز نسین (ترکیه)

---

دغه طنز څو کاله وړاندې ښاغلي عزت الله پیژاند پښتو ته ژباړلی و ، دغه کتاب تر چاپ لاندې و ، چې ماته دښاغلي پیژاند کتاب ورسیده.

ع - سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیکمرغي

زړې ښځې مراچکووا په کلي کې یوازې ژوند کاوو ، کولای شو ووایو چې هغې د نیکمرغي په باره کې ځانګړی تصور درلود. د هغې دوو چرګو چې لیندا او میندا نومیدې هګۍ اچولې ، دې هګۍ خرڅولې ، له دې سره سره چې د دغې انا زړه نه غوښتل چې خپلوان دې پرله پسې لیکونه ورته ولیږي ، بیا هم کله چې به ډاکي (پوسته رسوونکی) کلي ته راته ، دې به په ورین تندي د هغه هر کلی کاوو ، یوه ورځ ډاکي ورته وویل:

- انا دری کرونه ماته راکړه ، او دغه تابلو ډکه کړه ، هره خانه چې غواړې چلیپا یې کړه ، دا یو ډول لاتري ده ، کیدای شي د جایزې وړونکې شې.

انا وخندل ویې ویل:

- زویه زه چېرې ، جایزه چېرې... خو بیاهم ددې لپاره چې ته خفه نه شې دغه دری کرونه واخله ، راځه چې جدول ډک کړو.

یوه اوونۍ وروسته پوسته چي یا ډاکی په حیراني دې ته په منډو راغی:

- انا جانې نه مې ویل ؟ نه مې ویل ؟ جایزه دې یو وړه جایزه ، اتیا زره کرونه جایزه دې یو وړه.

دغه خبر په څو دقیقو کې په ټول کلي کې خپور شو. هر چا یې په اوربدو چیغې وهلې:

- وای اتیا زره کرون ، څومره لویه نیکمرغي!

... دغې زړې ښځې پخپل ټول عمر کې دومره پیسې نه وې لیدلې... په دومره پیسو به څه کوي ؟»

په نورو ورځو کې به چې ډاکی کلي ته راته ، پنځه شپږ لیکونه به یې هغې ته راوړل ، دغه لیکونه د هغې د زامنو ، لوڼو ، لمسیانو او نورو خپلوانو ول.

هر یوه به د دې د روغتیا او خوشالي هیله کوله او لیکل به یې چې په دې پسې ډېر خفه شوي دي.

یوه اوونۍ وروسته د هغې تش کلیوالي کور له میلمنو ډک شو ، زامن ، لوراني ، نږندې ، زومان او ډېر لمسیان د کلي په لوري رامات شول. مشرانو زامنو یې هغه په غیږ کې نیوله ، مورجانه به یې بلله او ښکلوله به یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږندې به له هغې سره لاس په غاړه کرځېدې ، او هغه به يې فرشته صفته او مهربانه ښځه بلله. دې خپلې دوه چرګې ليندا او ميندا ميلمنو ته حلالې کړې. آن د ازوغ خونه يې پاکه او فرش کړه ، چې ټول ميلمانه پکې ځای شي ، مشر زوی وکولای شول ځانته موټر واخلي. دويم زوی او ميرمنې يې چې کور نه درلود ، کور يې واخيست په دې توګه د ټولو ارمانونه پوره شول.

سخې زړې ښځې ټول خوشاله کړل ، اتيا زره کرون يې تر وروستۍ پيسې پورې ولګول. ميلمانه بېرته ښار ته ولاړل.

انا پخپله کوډله کې يوازې پاتې شوه ، يوازې ، يوازې. آن ليندا او مينداهم نه وې ، تر څو د دې په شاوخوا کې وکړتيږي او هګۍ واچوي.

څه وخت وروسته بيا يوه ورځ ډاګې کلي ته راغی. انا هغه ته يوه پياله قهوه ورکړه ، آنا ډاګې ته وويل:

- پان ميلنيکه ماتل تاته درناوی درلود او لرم يې. زه له تا يوه هيله لرم.

ډاګې وويل:

- مهرباني وکړئ نيکمرغې او خوش طالع ښځې.
- زما هيله دا ده ، چې نور پر ما لاترې خرڅه نه کړې.

ليکوال: ايرژی ستانو (پخوانۍ چکوسلواکيا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قلمونه

یوه ورځ قلمونو په خپل منځ کې خبرې کولې ، هر یو د خپل ارزښت په اړه غږیده ، سره قلم وویل:

- زما کار ډېر ارزښتمن دی. په ما غلطۍ سموي. د کنټرول مامورین په ما لګښتونه او بودجوي مسئلې کنټرولوي.

د کاپي قلم وویل:

- زه داسې کار کوم ، چې هر څومره پنسل پاک پرې وهي ، پاک کېږم نه.

نري نوک لرونکي قلم وویل:

- که د صورت یا بدن رسمول وي ، له ما کار واخلی ، تر څو بدن په دقیق ډول انځور شي.

پنسل چې تل کار ترې اخیستل کېده ، له ډېره کاره څو ځله تراش شوی و او اخیر ته رسېدلی و ، آن د خبروکولو توان او حوصله یې هم نه لرله وویل:

- ځینې وختونه ډېر اړین توب او ګټور توب هم د سرې په زیان وي.

لیکوال: ولادزیمژشیسلوفسکی- (پولنډ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بهانه

له خپلې میرمنې او لور سره مې ژمنه کړې وه ، چې تیاتر ته به ځو. باید د شپې له اتو بجو د مخه کورته رسیدلی وای او دوی مې راسره بیولې وای. په یوه محفل کې بند شوم ، چې پام مې شو اته نیمې بجې وې ، ټکټونه هم له ما سره وو. په تلوار کورته ولاړم نه بجې شوې وې ، پوهیدم چې کار مې خراب دی ، ښځه او لور به مې وخوري. چې په دروازه ور ننوتم د دې لپاره چې د دوی پام بلې خواته واړوم ، و مې ویل:

- تنخوا مې زیاته شوې ، ها ها.

لور مې په تروشه تندې وویل:

- ډرامه په اته بجې شروع شوې ، یعنې چې نیمه یې تیره شوې او تا اوس تشریف راووړ.

و مې ویل:

- هی... لورې څه وکړم ، ډېر بد بند شوم.

سوچ مې وکړ چې باید یوه بهانه جوړه کړم. فلانکی مړو ، یا کومه بله پېښه.

خو ومې لیدل چې میرمن مې غاښونه چیچي. او له سترګو یې د قهر لمبې بادیږي.

و مې ویل:

- له خپل ملګري باني سره مخ شوم ، ویل یې چې یوه کومیډي ډرامه یې لیکلې چې ماته یې ولولي ، هغه ډرامه ټوله راته ولوسته ، چې خلاصه شوه ، پام مې شو چې له اتو تېرې دي.

لور مې په ریشخند وویل:

- ښه ، ډرامه یې څنګه وه ؟

- هی بابا... دوه پیسې نه ارزیده ، خو څه وکړم ملګرتیا وه. سړی باید د دوستانولپاره کله کله سر ښیندنې ته تیار وي ، ملګرتیا یوه اړیکه ده ، لکه اومړی تار ، سړی باید په دوستي او ملګرتیا ډېر ټینګ وي.

میرمنې مې دغه وینا په چوپتیا سره اورېدله ، په مسخرو یې وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو ملګرتیا ښه شی دی ، خو زه یې اوس معلوموم.

دې د ټیلیفون غوږی (ګوشي) راپورته کړه ، پوه شوم چې باني ته ټیلیفون کوي ، چې آیا زه له هغه سره وم که نه ؟ په زړه کې مې ویل خدای دې وکړي چې باني په قضیه پوه شي او د دې خبرې پخلی وکړي ، چې زه له هغه سره وم ، آخر زما ملګري با درکه او ژر پوهیدونکي دي.

ښځې مې په ټیلیفون کې وویل:

- بلې... میرکو... سلام.

ما پې چیغې کړې:

- زه له میرکو سره نه وم ، ولې هغه ته ټیلیفون کوې ؟

ښځې مې په دې خبره غوږ ونه ګراوو ، خبروته یې دوام ورکړ:

- میرکو! آیا زما بد مرغه مېړه اوس له تاسره نه و ؟

ښه ، ښه ... ډرامه دې لیکلې او ده ته دې لوسته... مننه

ښځې مې بله نمره ډایله کړه ، د دې تر څنګ یې زما لور ته وویل:

- پلار دې د باني کره نه ، بلکې د خپل بل ملګري میرکو کره تللی ، او د هغه ډرامې ته یې غوږ نیولی... بلې... ژارکو... سلام څه حال مو دی ؟

- دا زما بدمرغه مېړه تر اوسه له تا سره نه و ؟ هه... آفرین... ښه... ډرامه دې لیکلې وه او ده ته دې لوسته... ستاسې کره و... او تر پایه یې ستا ډرامه واورېدله... آفرین... ښځې مې ګوشي کېښوده ، وروسته مې ښځې ټولو ملګرو ته یو په بل پسې ټیلیفون وکړ.

ملګرو هر یوه له یو بل نه ناخبره تائیدوله ، چې زه له هغه سره وم او هغه چټیاټ یې چې لیکلې ول ، ما واورېدل. تر څو د دوی د اثر په باره کې خپل نظر ووایم. اوس په هغه حالت کې زما حالت او قیافه پخپل نظر کې مجسمه کړئ.

میرمنې او لور ته مې یوه ذره اعتبار پاتې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال: ميلی پوپوفسکي (يوګوسلاويا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیزو او هینداره

یو وخت یوه فیشني بیزو د ځنګل په یوه اداره کې سکرتره وه ، د خپل دفتر د دهلیز په هینداره کې یې خپل ځان ولید. د خپلې خیرې په لیدو سخته په غوصه شوه چیغه یې وکړه:

- ځومره حماقت... دا څه ویرونکې څېره ده ، چې زه یې وینم؟ دا زه نه یم ، هینداره زما څېره ناسمه ښکاروي.

د هغې ځنګلي موسیسي رئیس چې له دې سره خپلوي لرله ، د دغې بیزو خبرې تائید کړې ویې ویل:

- رینښتیا چې ډېره بې نظمي ده ، د ادارې په دهلیز کې دا هینداره چا ایښې ده؟

هغه خانه سامان چې په دهلیز کې یې هینداره را ځړولې سمدلاسه له دندې ګوښه شو.

لیکوال: چلکاش (بلغاریا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جایزه

فدیالولیاکین د ادارې رئیس وروغوښت ، ورته ویې ویل:

- کېنه

فدیا کېناست ، رئیس وویل:

- کاروبار دې څنګه دی ؟
- بد نه دی قربان.
- هو ، یعنې چې لا تر اوسه د ستاینې او تقدیر وړ نه یې.

فدیا څمکې ته ټیټ وکتل ، رئیس وویل:

- که سبا ته په غونډه کې تا ته د یوه ښه او نوښتګر کارکوونکي په توګه نغدي جایزه درکړل شي څه کوې ؟
- هغه بېرته ورکوم ، زه د نغدي جایزې مستحق نه یم.
- آ... هو... آفرین کټ مټ لکه د فلمونو ، شاباس.

رئیس بیا په معنا لرونکي انداز لولیاکین ته وکتل له ځانه سره وبونګیده.

په پای کې رئیس وویل:

- ګوره فدیا ، خو کسه نور هم جایزه اخلي ، مثلاً دا ایوان تیترین مستحق نه دی ؟ پره سوخین مستحق نه دی ؟
- مستحق دي ، دواړه مستحق دي.
- خو که ته پیسې بېرته ورکړې ، هغوی شرمېږي ، هغوی هم پیسې بېرته ورکوي ، لکه فلمونه...

فدیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ډېر ښه ، نو زه پيسې ببرته نه ورکوم.

رئيس په معنا لرونکي انداز وويل:

- نو وجدان دې څه شو ، ته خو مستحق نه يې ؟

فديا په چرتونو کې ډوب شو ، ده مظلومانه وويل:

- زه په غونډه کې پيسې ببرته نه ورکوم ، له غونډې وروسته بې له دې چې څوک مې ووينې يا خبر شي ، پيسې تاته درکوم.
- ماته ؟ همدغسې پټاپټ ؟
- هو. تاسې ته ، همدغسې پټاپټ.

رئيس په موسکا وويل:

- ته فديا ، ډېر ښه سړی يې.
- زه ؟
- هو ته ، ښه سړی په ټيټ بست کې کار کوي ، فکر کوم د دې وخت را رسيدلی ، چې په لوړ بست کې دې مقرر کړم ، آفرين ،څه ګرانه ، ولاړ شه او د مامورينو مدير ماته راولېږه.

ليکوال: و. شکالين (پخوانۍ شوروي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکړم عادت شوی مې دی؟

د پنجشنبې په ورځ مې د غرمې له ډوډۍ وروسته غوښتل لږ آرام وکړم ، لا مې سترګې نه وې سره ورغلې چې ښځې مې چیغې کړې:

- پورته شه... اور مې واخیست ، وسوم ، اور ، اور!

سترګې مې وموښلې و مې ویل:

- ته تل داسې یې. سترګې مې لاپټې کړې نه وي ، چیغې وهې ، هله زلزله ده ، یا اور یا سېلاب.
- ژر وخوځه... پخلنځی له لوګي ډک شو...ژرکوه اطفایې ته ټیلیفون وکړه.

ما څپلکې لټولې ، ښځې بیا چیغې کړې:

- په څپلکو پسې مه ګرځه ، شاید په پخلنځي کې د اور د لمبو په منځ سوځلې وي.
- نو د ټیلیفونو لارښود کتاب راکړه.
- هغه هم په پخلنځي کې و ، له معلوماتو څخه د اطفایې (اور وژنې) نمره وپوښته.

پریکړه مې وکړه د ښځې خبره مې ومنم ، په داسې وختونو کې باید په کورنۍ کې سوله او پیوستون وساتو. له «معلوماتو» مې وپوښتل:

مهرباني وکړئ د ماتې کریاکوف نمره راکړئ.

نمره یې ژر راکړه او ما ټیلیفون وکړ ، له بده مرغه زما دغه ملګری په کور کې نه و.

«معلوماتو» ته مې ټیلیفون وکړ:

مهرباني وکړئ د دراکان کواچکوف بلوار تلیوخین نمره راکړئ. نمره یې راکړه او ماټیلیفون وکړ ، د یوه ماشوم غږ مې په ټیلیفون کې واورید چې ویل یې:

- مور جانه او پلار جان تیاتر ته تللي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې «صفر څلور» ډایل کړه ، دا ځل مې په یوه وار د خپلو څلورو انډیوالانو نمرې واخیستلې. په ټیلیفون کولو مې پیل وکړ ، یوه د ټیلیفون ګوشي پورته نه کړه ، دا بل چیرې تللی و ، چې غوښتل مې دریم ملګري ته ټیلیفون وکړم ، ښځې مې په غوصه ګوشي له لاسه کش کړه او چیغې یې کړې:

- کور اور اخیستی او جناب خپلو ملګروته ټیلیفون کوي.

دې خپله له صفر څلور څخه د اور وژنې نمره واخیسته ، وروسته یې اور وژنې ته ټیلیفون وکړ.

اطفائیه را ورسېده او د پخلنځي اور یې مړ کړ ، د هغو له تلو وروسته مې ښځه بیا پر ما را نازله شوه ، چې پاتې قهر او غضب پرما خالي کړي:

- که زه نه وای ټول کور به اور اخیستی و. او ته په داسې نازکو حالاتو کې خپلو ملګرو ته ټیلیفون کوې.

- ګرانې څه وکړم عادت شوی مې دی ، له دې چې بې له پیژندګلوي او واسطې هیڅ کار په ښه ډول سر ته نه رسېږي ، او زه تل له خپلو پیژندویه کسانو د ستونزو د لیرې کولو لپاره ګټه اخلم ، خپلو ملګرو ته مې ټیلیفون کاوو ، څو د اور وژنې د کار کوونکو لپاره واسطه پیدا کړم.

لیکوال: رادوی رالین (بلغاریا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه معلومه ده؟

ښځه مې تل راباندې غړومبېږي چې د خپلې لور الن د روزنې لپاره لږ وخت لګوم.

هغه غواړي زه هره ورځ خپله لور د کور په نږدې پارک کې وګرځوم. د تیرې خالي په ورځ مې د دې لپاره چې ښځه مې بیا راسره جنجال و نه کړي خپله لور پارک ته بوتله ، ښه ورځ وه ، تازه هوا او د ونو سیوري خوندور و ، زه د باغ پر یوه څوکۍ کېناستم او الن د ټال په لوري منډه کړه ، ورځپاڼه مې خلاصه کړه چې ویې لولم. اتومي جګړو ، څو کودتاګانو ، رنګ رنګ جنایتونو او جنایي پېښو د ورځپاڼې زیاتره پاڼې ډکې کړې وې. له ۱۵ دقیقو وروسته مې مطالعه بس کړه او د ماشومانو لوبو ته مې کتل.

د یوې مربع په منځ کې یې شګې اچولې وې چې ماشومان پکې لوبې وکړي ، یوه هلک او نجلۍ پخپلو ورو پلاستیکي لوښو کې اوبه اچولې وې ، او اوس یې شګې پکې اچولې ، داسې پخپل کار بوخت ول چې سرړي فکر کاوو یوه دنده سرته رسوي. ما له ځانه سره فکر وکړ: څه معلومه ده؟ شاید سبا دغه ماشومان لوی شی ، نامتو عالم ترې جوړ شي ، کیدای شي دوی په یوه پټ لابراتوار کې داسې وسلې جوړې کړي ، چې په څو دقیقو کې د ځمکې کره تېوته تېوته کړي ، تر یوه ونه لاندې مې څو ماشومان ولیدل چې د یوې موضوع په باب یې جرو بحث کاوو.

د ژېرو ویښتانو وال هلک یې په منځ کې ناست و. داسې ښکارېده چې د مجلس مشري کوي. له ځانه سره مې وویل:

- څه معلومه ده؟ کیدای شي څو کاله وروسته دغه ماشومان داسې سازمان جوړ کړي چې پخپله مخفي غونډه کې پریکړه وکړي چې جمهوریت رانسکور کړي. او دغه د ژېرو ویښتانو وال خپله دیکتاتوري اعلان کړي. شاید دده په فرمان په زرګونو کسان زندان ته واچوي. کیدای شي دی اعلان وکړي چې له ده څخه نه اطاعت سخته جزا لري. په دې وخت کې مې له مخې یو هلک په چټکتیا سره په بایسکل تیر شو. دغه ماشوم دولس کلن و. د ده شاته بل ماشوم بایسکل ځغلاوو.

- څه معلومه ده؟ شاید یوه ورځ دا په داسې سړي بدل شي ، چې ډله پولیس پسې وي ، چې ویې نیسي. د ورځپاڼې بل مخ مې راواړاوو ، د یوې لیکنې سرلیک مې ولوست:

«ژان مخوف د جنرال سویستي بانک لوټ کړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې میرمنې په بایسکل سپور ماشوم پسې چیغې کړې:

- پام چې ونه لوېږې.

حتماً یې مور وه. د مور خبرې یې لا په هوا کې انګازې کولې ، چې ژان مخوف په ځمکه ولوید. لکه له زندانه د زندانیانو د تېښتې په وخت کې د زنګ غوندې غږ پورته شو. یوه نجلۍ د هغه خواته ورغله او دهغه له مور څخه یې وپوښتل:

- څه پرې وشول ؟ تپې شو ؟

جنکۍ چې پخپلو ویښتانو شنه پټه تړلې وه ، ډېره ښکلې وه ، زه له خپل طرز فکر څخه وشرمېدم ، اخیر دا ورځپاڼې ولې د بدوشیانو پر ځای نورشیان نه خپروي. ټول د دیکتاتوري جګړې او وژنې په هکله لیکي. له ځانه سره مې وویل:

- څه معلومه ده ؟ شاید دغه جنکۍ د ماشومانو د روغتون رئیسه شي. کیدای شي دا دومره سرښیندونکې شي ، چې خپل کورنی ژوند هیر کړي او د ماشومانو د علاج لپاره شپه او ورځ کار وکړي. بیا مې فکر وکړ «دا جنکۍ او هلکان چې په شګوکې لوبې کوي ، کیدای شي د سرطان ناروغي واکسین کشف کړي ، هغه هلکان به چې تر ونې لاندې را ټول دي او جروبحث کوي ، کودتا و نه کړي. بلکې د سولې کنفرانس به جوړ کړي ، په بایسکل سپور ماشوم ښایي د «د فرانس توردو» د سیالیو اتل شي.»

ما ځان په دغو مثبتو سوچونو بوخت کړ ، الن لور مې چې په ټال وهلو ښه مړه شوې وه راغله ، «څه معلومه ده ؟ کیدای شي یو وخت فرانسویان پریکړه وکړي ، چې یوه ښځه خپله ولسمشره وټاکي او دغه جمهور رئیسه ولې زما الن نه وي ؟»

الن را غږ کړ:

- بابا جانه... پنځه فرانکه راکړه.

و مې ویل:

- ګرانې پنځه فرانکه مې پرون درکړل ، څه دې کړل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خبره کې يې د پوښتنې حالت ښکاره شو ، آن هغې نه شواى کولاى دا را په ياد کړي چې پرونۍ پيسې يې څه کړې دي.

له ځانه سره مې فکر وکړ:

- لور مې که هر څه شي د ماليې وزيره به نه شي ، خو څوک پوهيږي ؟ ... څه معلومه ده ؟ ... شايد.

ليکوال: واسيليس الکساکيس (فرانسه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ماتې خواشيني

سوچ وکړئ څه پېښېږي ، که د جمهوري رياست يو کانديد په لومړي پړاو کې له ماتې سره مخ شي ، او د کانديدانو له لست څخه ووزي.

زه يوه ورځ د دغسې يو کانديد ليدو ته ولاړم. هغه د لانايت ميدان د پارک په اوږده چوکۍ ناست و ، او سپينې مانۍ ته يې په حسرت او ارمان خړ خړ کتل.

چوپتيا هره خوا واکمنه وه. هغه يوازې او يوازې و ، ما هڅه کوله دغه درنه چوپتيا ماته کړم ، ومې ويل:

- ښکلې کور دی ؟

هغه په خواشيني انداز ځواب راکړ:

- ما همغه لا ښه جوړاوو ، ښځې مې غوښتل ټول دويم پوړ له سره سينګار او ښکلی کړي. ما غوښتل سترې ميلمستياوې او د نڅا محفلونه جوړ کړم او د مانۍ ساتونکو ته نوې جامې او دريشۍ جوړې کړم. زما په مغز کې د دغې مانۍ په باب ډېر پلانونه و.

و مې ويل:

- ډېره خواشينوونکې ده ، چې يوه ورځ سړی د جمهوري رياست کانديد وي ، او بله ورځ هيڅ ، ته ډېر له څه شي څخه غمجن يې ؟
- له دې چې خپل پټ ساتونکي مې له لاسه ورکړل ، هغه ډېر ښه خلک ول ، هر ځای به چې زما زړه غوښتل ، هغوی به بېولم ، ماته د هوټل په يوه کوټه يا د الوتکې په چوکۍ کې ځای نيول هيڅ ستونزمن نه ول ، تاسې نه پوهيږئ چې سړی له دې څخه چې د ښار په يوه ستر واټ کې موټر چلوي او شپږ کسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې شاوخوا ځغلي ځومره خوند اخلي. هر ځای ته به چې تللم هغوی به لټاوو ، شپه ورځ يې زما د كور ساتنه كوله دا يوازينی وخت و ، چې ما په واشنګټن كې د امنيت احساس وكړ.

- دا خو ته فكر كوې د نورو په باره كې چې په انتخاباتي مبارزو كې يې ګډون كړی ، او پيسې يې هسې په هوا تللې څه وايې ؟
- اوس د انتخاباتي مبارزو تر پيله امنيت ته اړتيا لرم ، ډېر خلک له ما ناراضه دي ، ځكه و مې نه شوای كړای چې ښه وځلېږم. وبښه هير مې شول.

وروسته يې په ساړه اسويلي وويل:

- دا رنګه ما مطبوعات وبايلل ، خلک فكر كوي چې د ولسمشرۍ پر كانديدانو د قلم خاوندان ګران دي ، فكر كوم رسنيو زما حق ادا نه كړ او زما تصوير يې سم وړاندې نه كړ د ښاري سرويسونو كاتوليكانو ، يهودانو او پروتستانو په اړه يې زما نظر ښه بيان نه كړ ، تورپوستو او ميرمنو له ما مخ واړاوو ، ښاريان د ټولنيزو خدمتونو په اړه زما په پروګرام پوه نه شول ، كه نه زه به ښه ځليدلی وم.
- نو اوس تاسې اميد بايللی ؟
- نه بيخي نه ، زه د نورو غوندې كوښښ كوم په ګوندي كانونشن كې نفر پيدا كړم.

بيا يې سپينې مانۍ ته په وروستي ځل په حسرت وكتل ويې پوښتل:

- پتسلام ته په كوم سرويس كې ولاړ شم ؟
- خو دا غلط دي
- دا خبريالان له خپلو يادښت كتابچو او كمرو سره او دا ځراغونه سړي ته د ا احساس وركوي چې ځواكمن دی. خو له هغې شيبې چې له لسته ولويدم ، آن يوه كس پوښتنه ونه كړه ، چيرې يې ؟ غواړې پوه شي څه مقام لرم ؟
- يه ، خو ماته دا په زړه پورې ده ، چې په انتخاباتي حوزو كې څه درپيښ شول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- انتخاباتي ملګرو مې ښه کار ونه کړ ، پوره پيسې مې نه لرلې خلکو د انرژي په اړه زما پروګرامونو ته ليوالتيا ونه ښوده ، هوا باراني وه ، ښه تلويزيوني پروګرام وړاندې نه شو ، موټر مې مات شو ، خو څوک نه ملامتوم.

«لوی خلک بل څوک د خپلې ماتې له کبله نه ملامتوي»

ليکوال: آرت بوخوالد «امريکا»

# د مينې په خاطر سزا

- اوه ګرانه زغلوله دا څنګه شوی يې ، دا ټول بدن دې ولې داسې شين ګرځيدلی دی؟ ته بيخي د پخوا غوندې نه يې.
- اخ ګرانه مصطفی ، مه پسې ګرځه ، ژر يوه پياله قهوه راکړه.
- ډېرښه قهوه به راشي ، خو ستا څېره ډېره ډارونکې شوې ده.
- پوهېږم ، خپله مې ځان په هينداره کې وليد وډار شوم.
- آيا له غلو سره مخامخ شوې ، او جنګ دې ورسره وکړ؟
- څه ووايم؟ زه مې د خپلو ښځو له لاسه دې حال ته رسيدلی يم.
- دا ده قهوه وڅښه او کيسه وکړه... څنګه دې ښځو په دې حال کړې؟
- ته زما ښځې نه پيژنې ، څلور بلاوې ، څلور آسماني آفتونه دي.
- نو هغو ولې ته په دې حال کړې ، نه چې له کومې اروپا يي ښځې سره يې ليدلی يې؟
- ای بابا په دې پنځوس کاله عمر کې مې هيڅکله داسې هوسونه نه دي کړي. په ما مې خپلې ښځې د ټولې دنيا ترښځو ګرانې دي. خو له ما يوه غلطي وشوه چې دا پيښه را باندې راغله. ته خبر يې چې زه څلور ښځې لرم. ما پرېکړه وکړه چې هره ښځه ځان ځانته پوه کړم چې را باندې ګرانه ده. نيت مې وکړ چې هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې ته پټ يو سوغات ورکړم او ورته ووايم چې دا مې تر ټولو ګرانه ميرمن ده. دغو سوغاتونو زه دې حال ته ورسولم.

- ته څه وايې سړی دې سوغات هم ورکړې او دا سې تک شين دې هم شي.
- ګرانه دوسته کيسه واوره خبره داده چې له ډيرو تجربو سره سره زه بيا هم د خپلو ښځو په خوی پوه نه شوم ما مې خپلې ښځې ليلا ته يوه ډيره ګرانبيه ګوتې واخيسته چې ښکلی او قيمتي غمی يې درلود ، هغې ته مې وويل چې تر ټولو ګرانه ښځه مې ته يې. هيله مې ترې وکړه چې زما نورو ښځو ته يې ورښکاره نه کړي ، چې بد نيتي ونه کړي. خپلې دويمې ښځې ثريا ته مې قيمتي غاړه کۍ واخيسته او ورته ومې ويل چې تر ټولو ګرانه ښځه مې ته يې. خپلې دريمې ښځې ريحانې ته مې د سرو زرو وښې (لاس وندی) واخيست او ورته ومې ويل ته مې تر ټولو ګرانه ښځه يې. خپلې څلورمې ښځې ته مې لښتۍ ( غوږ والی) واخيستې او ورته ومې ويل چې تر ټولو ته را باندې ګرانه يې ، له هرې يوې مې جلا جلا هيله وکړه چې نورو ښځوته ونه وايي.
- ښه بيا څه وشول ؟
- ګرانه دوسته لور مې زبيدې وروسته را ته کيسه وکړه چې زما لومړۍ ميرمنې ليلا ګوتې په ګوته کړه او نورو ته يې په ګوته ديوالونه ورښودل چې خومره چټل شوي دي. ثريا چې پوهيږي چې ليلا پخپله ګوتې تيم ورکوي او دوی ته يې ورښکاروي ، هغې هم غاړه جګه ونيوله ويې ويل هو رښتيا وايی په چت باندې هم دوړې او ګردونه ناست دي ، دريمې او څلورمې ښځې مې هم پخپلوځانګړو طريقو خپل سوغاتونه نورو ته وروښودل په پای کې زما راز رسوا کېږي. چې هريوې ته مې ويلي چې ترنور را باندې ګرانه يې.
- زه خوارکی له دنيا ناخبره کورته راغلم ومې ليدل چې څلور واړو ښځې مې په ډير غوصه بريد ته چمتو ولاړې دي. بس راباندې نازلې شوې.
- ز غلوله ريښتيا چې تا ډير احمقانه کار کړی ، ته نه پوهيدې چې ښځې څه خويونه لري ؟ ښه اوس څه نيت لرې ؟
- بې له دې چې يوه دوه اوونۍ ستا په کور کې پټ شم بله لاره نه لرم تر څو مې چې ږيره ورسېږي ،د بدن پوستکی مې ښه شي او دا شين والی ورک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو زغلوله بله لاره نشته له نیکه مرغه زما په کور کې دا ډول جنجالونه نشته ځکه زه یوه ښځه لرم.

لیکوال: محمد العطیبه ( سعودي عربستان )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما زوی که ستاسې؟

د پخلنځي د کړکۍ ښیښه په درز سره ماته شوه میرمن دیر بورن په غوصه پخلنځي ته ولاړه د هغې ګومان سم و.

ښیښه د فوټبال د یوه توپ په اندازه سورۍ شوې وه او د فوټبال توپ یې د پخلنځي کونج کې ترستر ګوشو میرمنې له ځانه سره وویل:

- بیا هم دغو دغو شوخو هلکانو په سړک په فوټبال کولو سره لیونۍ کړم د دغو میراتمړو ښوونځیو رخصتي څه وخت ختمېږي ؟

دغه کارځو وارې شوی و هر ځل هغې د هلکانو توپ بېرته ورکړی و خو دا ځل یې د قهر اور لمبې کولې تر شونډو لاندې غړومبیده:

- زه درسره کار لرم ته ودرېږه.

څو دقیقې وروسته د هغې د دروازې زنګ ووهل شو ، دې ځان په غوصه ونیو دروازه یې خلاصه کړه د دروازې په خوله کې دولس کلن هلک ولاړ وو نیکر او خط خطي کمیس یې اغوستی و. جرابې او شینکاک بوټونه یې په پښو ول ، ماشوم د دې د څېرې په لیدو وډار شو ویې ویل:

- میرمنې ښښنه غواړم موږ بیا دا کار نه کوو.

میرمنې وویل:

- ښه نو دا ازاریان تاسې یاست د تاسې له فوټباله خو زه پوزې ته راغلې یم زما کړکۍ تا ما ته کړه ها ؟

ماشوم وارخطا شو :

- یه میرمنې! یوه بل شوټ کړ خو هلکانو په توپ پسې زه راولیږلم ته زموږ توپ راکوې ؟
- ښه ....توپ درکړم چې بیا زما ښېښې پرې را ماتې کړې ؟

ماشوم وویل:

- میرمنې موږ بیا داسې کارنه کوو موږ نیت کړی چې وروسته له دې بل ځای فوټبال وکړو قسم خورم

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمن دوه زړې وه نه پوهیده د ماشوم خبره ومني که نه

په دې وخت کې ماشوم وویل:

- آغلې د ښیښې په خاطر هم اندیښنه مه کوه نن ماښام مې پلار ستا کورته راځي نوې ښېښه به درته واچوي. دښېښو پیسې هغه زما د جیب خرڅ له پیسو ورکوې سره له دې چې میرمن دیر بورن د ماشوم په خبره باور ونه کړ خو بیایې هم د فوټبال توپ را واخیست او خپل څښتن ته یې ورکړ.

ماشوم په منډه د فوټبال ډګر او د نورو ماشومانو په لورې ولاړ.

میرمن دیر بورن هیڅ فکر نه کاوو چې ماښام دې دهغه ماشوم پلار راشي او ښېښه دې بدله کړي خو ماښام یې دروازه وټکیده ،دې دروازه ورخلاصه کړه و یې لیدل چې د منځني عمر سړی چې ښېښه یې تر څنګ نیولې وه په دروازه کې ولاړ دی.

سلام میرمنې راغلم چې ستاسې د کور ماته ښېښه بدله کړم میرمنې هغه پخلنځي ته بوت ،سړی پخپل کار بوخت شو د کار له پای ته رسولو وروسته یې هغې ته کاغذ ورکړ ویې ویل:

- دا هم بل مهرباني وکړئ د ښېښې پیسې راکړئ.

میرمن دیر بورن حیرانه شوه:

- کومې پیسې ؟

- د ښېښې پیسې او د کیښودلو مزد یې ، آیا هغه هلک تاته څه ونه ویل؟ هغه هلک زه راولیږلم ستاسې خپل زوی.

میرمن چیغې کړې:

- زما زوی؟ زه زوی نه لرم نو هغه هلک ستا زوی نه دی؟

- یه میرمنې هغه ستا زوی دی ستاسې فرمایش یې ماته وواېه ما هم خپل خدمت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال: دينتون فورد ( انګلستان )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په بانک کې

یو ولس بجې او ۴۵ دقیقې وې چې د لندن د یوه بانک لوی سالون ته یوه د منځنۍ عمر لرونکې ښځه راننوته ، هغې د یوې ځانېخواته غرفې کړکۍ ته ځان ورساوو هماسې په چوپتیا سره یې صراف ته کاغذ ورکړ په کاغذ کې لیکلې ول:

«یو څه پیسې راکړه کنې فیر کوم» صراف بې له دې چې وارخطا شي ورو یې د هغې تر جملې لاندې ولیکل «په سترګو بس دېز مه کوه» ښځې په پټه خوله بل کاغذ هغه ته ورکړ په کاغذ کې لیکلي و:

«ډېر ښه فیر نه کوم خو ژر.»

په بانک کې چو پتیا خوره وه ،ټول په کار او راکړه ورکړه بوخت ول .د بانک د دروازې مخې ته پولیس په چورتونو کې لاهوو.

صراف ښځې ته کاغذ ورنېردې کړ پکې لیکلي ول:

«ډېر وخت نه وې راغلې خیرت و ؟»

ښځې پخپل جیب کې تومانچه له لاسه پرېښوده له دستکول څخه یې کتابچه راوایسته ،یوه پاڼه یې ترې پرې کړه ،په پاڼه یې ولیکل: «کلي ته د خپلو خویندوکره تللې وم.» یولس بجې او ۴۹ دقیقې صراف بل کاغذ دهغې مخې ته ور وړاندې کړ پکې لیکلي ول: «نن تاسې ډېره ښکلې ښکارئ.»

ښځې ترې لاندې ولیکل: «مننه مهربانی کوئ.»

صراف بیا ولیکل: «لمسه کیان دې څنګه دي.»

ښځې ولیکل: «مننه ښه دي.»

دغه لیک لیکل او جوړ په خیر څو دقیقې نور هم روان ول هغوی یو بل ته ولیکل او ځواب یې واخیست.

په پای کې ښځې خپله تومانچه په دستکول کې کېښوده له بانکه ووته کله چې هغه له لویې دروازې ووته د دروازې پولیس هغه صراف ته ځان را ورساوو ، ویې ویل:

- هغه ښځه بیا راغلې وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو
- څه يې ويل ؟
- د تل غوندې دق  شوې وه غوښتل يې له چاسره خبرې وکړي او د زړه خواله وکړي.

ليکوال: ديورد ميکيش ( هنګرى )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیغام معجزه

یوه ورځ د خلکو یو استازی ایالتي صدر اعظم ته ورغی او د بیو له لوړوالي څخه یې هغه ته شکایت وکړ ، ایالتي صدراعظم ورته وویل:

تاسې پوهیږئ چې بیې ډیرې لوړې دي ؟ ډیر ښه زه به سوداګرو ته یو پیغام صادر کړم ، زه د اقتصاد پر اصولو او اداري تدبیرونو باور نه لرم ،موږ د ګاندي په هېواد کې ژوند کوو زه په یوه پیغام سره د خلکو په زړونوکې ژور بدلون راولم .زه پیغام ورکوم چې تجاران بیې را ټیټې کړي او لوړ اخلاق وښیي.

د صدر اعظم پیغام درادیو له لارې خپور شو په پیغام کې ویل شوي و چې د خوراکي موادو سوداګر دې لوړ اخلاق وښيي او قیمتونه دې را ټیټ کړي ، خلک غریب دي باید له هغو سره مینه او خوا خوږي وښودل شي.

پیغام عجیبه اغیزه لرله د ښار په سترو تجارتي ځایونو کې دغه پیغامونه تر سترګو کېدل: «پلورونکي لوړ اخلاق ښیي» «زموږ پر نسیب انسانیت او انسان دوستي ده» د خوراکي توکو په مغازو یې لیکلی ول: غنم په سل روپۍ .

پیرودونکي راتلل او لوستل یې خو باور یې نه کاوو ، تر پرونه په دوه سوه روپۍ ول دوی به سترګې وموښلې بیا به یې ولوستل د باور کولو وړ نه و.

پیرودنکي په حیرانتیا وویل:

- غنم سل روپۍ ؟
- هو که مړ هم شم قیمته یې نه ورکوم لوړ اخلاق ماته دا سې حکم نه کوي.

پیرودونکي په زاریو وویل:

- سېټ جي ته و خدای په دوه سوه روپۍ یې راکړه ښځې مې دوه سوه روپۍ راکړې دي ،که په سل روپۍ یې را باندې خرڅ کړې میرمن به مې وایي چې غلا مې کړې ده .

یو بل پیرودونکي ګواښ وکړ:

- او هو سیټه په خپل همیشني قیمت یې خرڅ کړه که ارزانه یې خرڅ کړې نس به دې خیرې کړم.

سېټ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ما مه ډاروه که ټوټه ټوټه مې هم کړې قيمته يې نه درکوم اخير لوړ اخلاق او بشريت ته درناوی ماته دا اجازه نه راکوي چې قيمته يې خرڅ کړم. په بله مغازه کې چې د چای له قطيو ډکه وه خلک را غونډ شوي ول او د دوکان ليکنې ته ځيرول. په قطيو د پخواني قيمت نيمايي قيمت ليکل شوی و خلکو چيغې وهلې:

- قوطي نيمايي دي که ډک وي نو ولې په نيمايي بيه ؟

سپېڅ جواب ورکاوو:

- مهرباني وکړئ ، وايې خلځ ، نه تور بازار نه هم دوه چنده قيمت اخير اخلاق او انسانيت ما ته امر کوي چې ارزانه يې خرڅ کړم.

د منځني عمر سړی د دوکان له مخې تېرېده ، دوکاندار هغه تر لاس ونيو او دوکان ته يې راووست د منځني عمر سړي په نيولي آواز په زار يو وويل:

- سپېڅ جي ولې مې په خلکو کې بې عزته کوې درته ومې ويل چې تر لسم تاريخه ستا پور درکوم.

دکاندار په ډير ادب په مهرباني سره وويل:

- ګرانه څه وايې ؟ چا له تا پيسې غوښتې ؟ ما ته خپل دوکان ته راوستې چې سودا واخلې ، ځکه ومې ليدې چې شرمندوک تيريدې ، هر شی دې چې په کار وې وايې خله هر وخت دې چې زړه وغوښتل پيسې راکړه راځه زما ګرانه... د دوکان ټول مال تر تا قربان واخله ... بوره کيلو په دوه روپۍ.

پيرودونکی هک پک شو شونډې يې وخوځيدې:

-... دا څه وايې بوره کيلو په دوه روپۍ ؟ تر پرونه په پنځه روپۍ وه ... زه يې دومره ارزانه نه اخلم.

سپېڅ په مهربانۍ سره وويل:

- واخله واخله. پيسې د مياشتې په اخير کې راکړه زه دې نه پريږدم چې بې له بورې خپل کورته ولاړ شې ،لوړ اخلاق او انسانيت ما ته حکم کوي چې په خپلو وطنوالو مهربانه واوسم.

سپېڅ له بورې ډک پاکټ په زور هغه ته ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ورځې وروسته ډېرو خلکو چې زياتره يې د دولت مامورين ول ،مظاهرې وکړې او شعار يې ورکاوو:

سيمه ايز حکومت بيې را ټيټې کړې غواړي موږ سپک کړي څه خيال يې کړی دی ، موږ سوالگر نه يو ، موږ هم وجدان لرو يا قيمتونه لوړ کړئ ، که نه موږ دکانونه ويجاړوو.

د ماښام خواته پر دوکانونو د ډېرو اورول پيل شول شعارونه هم تند شول. «خلک غواړي قيمتونه لوړ شي ، مړه دې وي هغه کسان چې د خلکو د ارادې پر ضد عمل کوي.»

بهرنيو ژورنالستانو دا بهير په دقت سره څاره ، خوشيان په بشري تاريخ کې بې سابقې ول هغوی وليکل:

هغه عجيب هيواد چې د صدراعظم پيغام يې معجزه کوي ، هر ځای خلک د بيو را ټيټېدل غواړي ، دلته يې لوړول. خلک نه غواړي څه شي ارزانه واخلي.

کار خراب شوی و ، د خلکو وکيلان لومړی وزير (صدر اعظم )ته ورغلل ويې ويل:

- ښاغلی صدراعظم... بد حالت منځ ته راغلی ، ماشومان شيدې خوري بيرته يې قی کوي څکه په شيدوکې هغه بوره چې ارزانه اخيستل شوې اچوي ،خلک چای سوروي خو تر ستوني يې نه تيرېږي څکه چای ارزانه اخلي. ماشومانو ته نوې جامې ور واغوندي بدن يې تناکي شي څکه چې اوس خلک رخت ارزانه اخلي ، دکور ميرمنې ډوډۍ پخوي خو سر يې گرزي څکه چې غوړي يې ارزانه اخيستي دي .د خدای لپاره يو څه وکړئ موږ له دې جنجاله وژغورئ.

ايالتي صدراعظم د دغو خبرو له اوريدو وروسته وويل:

- مگر تاسې غوښتي ول چې سوداگرو او دوکاندارانو ته پيغام واستوم هغوی اخلاق او بشر دوستي ته راوبولم و موليدل چې زما پيغام څومره اغيزمن و ؟ ښه نو اوس چې ټينگار کوئ پيغام به صحيح کړم.

بله ورځ له راډيو څخه نوی پيغام خپور شو:

صدر اعظم په خپل پيغام کې وويل:

- قدرمنو دوکاندارانو... تاسې زما په خبرو سم پوه نه شوئ ، زما مقصد عادي عالی اخلاق او انسان دوستي نه وه بلکې دوکاندارانه انسان دوستي او لوړ اخلاق و.

پيغام ډير ژر اغيزه وکړه ټول شيان بيرته خپل لومړي حالت ته راوگرځيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال: هري شنکر پرسات( هند)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د يوې مينې داستان

کله مې چې هغه جګه او زړه وړونکې نجلۍ چې د باسکټبالانو غونډې ښکارېده ولیدله ، وارله واره پرې مین شوم. هغه د بدني روزنې او سپورټ ښوونکې وه. زه يې د خپلو شاګردانو د وړتیاوو لیدلو ته وربللی وم. له هغې ورځې وروسته مې کوښښ کاوو هغه ډېره ووینم ، هر ځل به مې چې لیدله ، زړه به مې په ټوپو شو د هغې ښکلا به نشه کولم ، ورځ په ورځ مې له هغې سره مینه زیاتېدله. یوه ورځ له دفتر ه راووتم کورته روان وم ، په لاره مې د هغې د مينې په باب فکر کاوو. د هغې د لربا نجلۍ په باب چې د سپورټ معلمه وه او پخپله ښکلا یې زما آرام وړی و. په خپلو خیالونو کې لاهو وم. له یوې کوڅې تېرېدم. چې یوه غښتلې لاس مې پر ګرېوان حس کړ ، دغه غښتلي لاس له دیوال سره ونښلولم ، د لاس خاوند ته مې پام شو یو بې ډوله او لنډه غر سړی و ، چې په لیدو مې یې په زړه لړزه ګډه شوه. غټو لاسونو ، ګردي مخ او غوصه ناکې څېرې یې د سړي زړه چوو. په ډېره ویره په داسې حال کې چې لړزېدم ، هغه ته مې وویل:

- تاسې څه کوئ؟

هغه بیا له دیوال سره ووهلم په هیبت ناک غږ یې وویل:

- پوهیږې که نه ؟

په لړ زیدلي غږ مې وویل:

- نه پوهېږم.

بې ډوله او غوصه ناک غاښونه یې وچیچل ویې ویل:

- اوس به پوه شې... ماته (پک سری) وایي. د قتل په جرم بندي وم ، پرون راخلاص شوم ، اوس مې هم چې څوک بد وایسي هغې دنیا ته یې لېږم.

له جېبه یې غټه چاړه را وایسته ، څوکه یې زما د پوزې مخې ته وګډوله.

په لړزېدلي غږ مې وویل:

- نو ولې...؟ ما څه کړي دي ، ما له تا سره څه بد کړي دي. هیبتناک لنډغر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښه ده ، چې بد دې نه دي کړي ، کنې اوس مې د دې خبرو وخت هم نه درکاوو. ژرکوه پیسې دې راوباسه.

دومره ډار شوی وم ، چې نه مې شوای کولای لاسونه مې جیب ته یوسم ، هغه ځنډ ونه کړ پخپله یې دا کار وکړ ، زما پیسې یې راویستې پخپل جیب کې یې کېښودې ، په دې وخت کې زموږ ترځنګ یو غږ راپورته شو:

- ولې د دغه ښاغلي په جیب کې لاس وهې ؟

د غږ خاوند یو پیاوړی شل کلن ځوان و. پک سري وخندل ویې ویل:

- هیڅ ، موږ پخواني ملګري یو ، ټوکې موسره کولې.

غوښتل مې چیغې وکړم چې دغه احمق دروغ وایي ، خو د هغه په سترګو کې د قهر او غضب لمبو وډار کړم. فکر مې وکړ چې که د دغه ځوان زور په هغه و نه رسېږي ، کار مې خراب دی ، نو په ویره مې وویل:

- هو ، رېښتیا وایي ، موږ پخواني ملګري یو ، ټوکې کوو ، ټوکې.

ځوان په تعجب راته وکتل ، وروسته پخپله لاره روان شو او له موږ لیرې شو ، د پک سري بیا پام شو ، امر یې وکړ:

- ساعت دې راوباسه.

ما خپل ساعت هغه ته ورکړ ، ساعت یې ور واخیست ، ویې ښورا وو ، غوږته یې ونیو:

- ګرځي... خراب خو نه دی ؟ خو که خراب شي ، یا وروسته پاتې شي ، یا مخکې ولاړ شي نو وای ستا په حال. ولې دې د ساعت ښیښه ګرړالي کړې ده ؟ احمقه ساعت سم ساتلی نه شې.

بیا مو ترځنګ غږ پورته شو:

- دلته څه خبره ده ؟

و مې لیدل چې یو امنیتي کس زموږ خواته ولاړ دی. د هغه په لېدو مې وغوښتل په پښو کې یې ورولوېږم ، څو ما له دغه دیو څخه وژغوري. خو بیا هم د دغه ځناور له سترګو د قهر لمبې بادېدې ، وډار شوم له ځانه سره مې وویل:

- اوس به مې دا ترې خلاص کړي ،خو وروسته به دغه سړی زما دښمن شي او وبه غواړي له ما غچ واخلي کار مې خراب دی ، هر ډول چې وي هغه به یوه ورځ ما یوازې پیدا کړي او حساب به راسره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پک سري بيا په ساختګي خندا وويل:

- څه نشته ، موږ دوه صميمي او نږدې دوستان يو له ډېرې مودې وروسته مو سره ولېدل.

له دغو خبرو وروسته يې زما سر په دواړو غېتو لاسونو ونيو او څو واره يې ښکل کړم ، له مچو يې ډېر په عذاب شوم ، پخپل لاس مې خپل مخ پاک کړ ، هغه سړي پوښتنه وکړه:

- نو ولې دې د هغه سړي ساعت ترې واخيست ؟

پک سري بې له دې چې ځان وبايلي وخندل ويې ويل:

- زما خپل ساعت و ، له ده سره امانت و.

سړي ماته وکتل ويې ويل:

- رښتيا وايي ؟

فکر مې وکړ دغه امنيتي کس به تل راسره نه وي ، ښه به وي چې دغه ځناور د ځان دښمن نه کړم ، نو ومې ويل:

- هو ، د ده ساعت دی ، له ماسره امانت و.

زما د جواب په وخت کې د پک سري لاس په خپل جيب کې و ، زه پوهيدم چې د چړې لاستی کړپوي. هغه امنيتي کس ته وويل چې ما ته يې ورور ويلي دي او سره ورونه يو ، امنيتي کس سر وښوراوو ، او ولاړ ، بې رحمه سړی پاتې شو او زه. هغه زما په لوټولو بيا پيل وکړ:

- بوټونه دې وباسه.

کله مې چې خپل نوي او قيمتي پوټونه وايستل ، هغه ژر په پښو کړل ، خپل زاړه او خيري شوي بوټونه يې زما مخې ته راواچول چې په پښو يې کړم.

په داسې يوه حالت کې مې د خپلې ګرانې معشوقې ښکلې او زړه وړونکې غږ واورېد. د هغې نجلۍ غږ چې څو ورځې کېدې چې پرې مين شوی وم ، هماغه د سپورټ ښوونکې.

- سلام ګرانه ، دلته څه کوې ؟ لکه چې لاره مو يوه ده ، ځه چې ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښو مې سستي کوله ، غوښتل مې روان شم ، خو دغه سړي تر ګریوان ونیولم او بېرته یې پخپل ځای مېخ کړم ، محبوبې مې هغه ته بد بد وکتل ، بې له ډاره یې ورته وویل:

- ولې د هغه خنډ کېږې ؟

پک سري په غرور وویل:

- د تا غرض نشته ښکلې زرکې ، ځه پخپل کار پسې دې ولاړه شه کنې معیوبه به دې کړم... هی... مړ موږکه د بوټو بندونه مې وتړه.

سره له دې چې ډېر شرمېدم ، خو له ډاره مې اطاعت وکړ ، د خپلو بوټونو تارونه مې چې اوس هغه په پښو کړي ول ، وتړل.

پک سري ټيله کړم ، چیغه یې وکړه:

- اوس دغه کوتره ماته راوله.

ما د نجلۍ لاس ونیو چې د دې سړي امر پر ځای کړم ، خو نجلۍ له خپل ځایه ونه خوځېده ، پک سر ی پخپله د نجلۍ خواته راغی ، خپل لاس یې د هغې به خوا اوږد کړ په احمقانه خندا یې ورته وویل:

- ښکه کوترې... اجازه راکوې لږ ساعتتیری درسره وکړم ؟

مخکې له دې چې لاس یې د نجلۍ بدن ته ورسېږي ، زما محبوبې په یوه چټک حرکت سره پک سری په څمکه وویشت هغه چې د داسې ضربې هیڅ انتظار نه درلود سخت ژوبل شو او چیغې یې پورته شوې. په سختۍ سره له ځمکې پورته شو بیا د نجلۍ په لوري ورغی.

- آخ... وای... ته ودرېږه... اوس به یې در وښیم.

نجلۍ په یوه چټک حرکت سره کلکه لغته وواهه او په ځمکه ولوید. لکه مار له ډېره درده سره واوښت.

پک سري ځو ځله کوښښ وکړ چې له ځمکې راپورته شي ، خو په دغه کار ي ضربې له پښوولويده.

نجلۍ بې له دې چې ماته وګوري پخپله مخه ولاړه ، له هغې ورځې وروسته مې چې هر وخت خپله محبوبه وینم ، خپله لاره بدلوم ، چې ورسره مخامخ نه شم ، فکر کوئ چې له شرمه دا کار کوم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيخې له شرمه نه ده ، تاسې يې تصورکړئ که له هغې سره واده وکړم او په يوه ښکلې او لمرينه ورځ په ما غوصه شي ، زما به څه حال وي ؟

ليکوال: شګداين سيندآيوش (منګوليا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوښت

په کوټه کې مې یوه کونج ته چپرکټ او په بل کونج کې الماری ایښې وه البته د کوټې په منځ کې مې میز ایښی و. دغه حالت بالاخره زه زړه نیولی او خواشینی کړم ، پریکړه مې وکړه نوښت وکړم ، چپرکټ مې د الماری پرځای او الماری مې د چپرکټ پرځای کېښوده. څو ورځې د دغه بدلون بوی مست کړی وم.

په پای کې مې دې حالت هم زړه وواهه ، له یو څه وخت وروسته مې حس کړه چې زړه مې تنګ شوی دی ، اصلاً میز او د هغه ځای خواشینی کړی وم... ولې نو میز د کوټې په منځ کې وي؟ خپل چپرکټ مې د میز پر ځای د کوټې په منځ کې کېښود ، دغه حالت مې په زړه او دماغ کې نوی والی راووست. سره له دې چې دغه بدلون ستونزې لرلې ، مثلاً زه چې د کوټې په منځ کې ویده کېدم ، دیوال ته له مخ اړولو بې برخې شوم هغه څه چې ډېره مینه مې ورسره لرله. خو په هر حال دا چې ما غوښتل نوښت وکړم دغه حالت مې ومانه. له یو څه وخت وروسته مې حس کړه چې دې حالت مې زړه وهلی دی. الماری مې د کوټې په منځ کې کېښوده او چپرکټ مې د الماری ځای ته یووړ. یو رادیکال حالت منځ ته راغی ، یو څه وخت تیر شو.

آخ د وخت تېرېدل سړی څومره بدلوي. د کوټې په منځ کې الماری پرته له دې چې په کوټه کې زما د عادي تګ را تګ خنډ کېدله ، زړه مې یې راوواهه ، هر څومره چې دغه حالت نوی او ټېپیک ښکارېده ، خو بیا هم زړه تنګونکی و... بیا مې هم باید یو رادیکال بدلون راوستی وای. جدي پریکړه مې وکړه داسې انقلاب راولم چې خپله ما هک پک کړي. په دې توګه مې د ناراحتي احساس له منځه یووړ.

نیت مې وکړ له الماری څخه چې د کوټې په منځ کې وه د خوب د ځای کار واخلم ، د الماری په منځ کې په خوب کولو مې پیل وکړ. پاتې دې نه وي چې په الماری کې د اړتیا وړشیان مې د چپرکټ پر سر کېښودل ، هغه څوک چې تراوسه په الماری کې نه وي ویده شوی ، نه شي کولای تصور کړي چې دا څومره ستونزمن کار دی. د ملا له درد او د عضلاتو له درد پرته په سلګونو نور رنځونه لري. د الماری په منځ کې خفه کوونکې هوا ته طاقت نه کېده.

په هغه حالت کې چې زه وم د وخت تېرېدل چې زړه مې ووهي لازم نه ول ، له څو ورځو وروسته په یوه نیمه شپه کې په داسې حالت کې چې د بدن هر بند مې خوږېده له الماری څخه راووتم.

او په چپرکټ پریووتم ، پوره درې شواروزه لکه مړی پروت او ویده وم.

څنګه چې راویښ شوم ، بیا مې الماری یوې خوا او چپرکټ بلې خواته کېښودل ، او میز مې د کوټې په منځ کې کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر وخت چې سترې شم او وغواړم نوښت وکړم ، هغه ستونزې چې ومې لیدلې رایادوم ، بېرته کرار کېنم.

لیکوال : ماکس ګونتر (سویس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ورږې د ماکولاتو معتمد

یوه ورځ یو ځیرک سړی د معتمد په بست کې مقرر شو. هغه یوې دولتي ورږې ته د ماکولاتو د حواله کولو معتمد و. له یوه څه وخت وروسته هغه له هغو موادو څخه چې ورږې (کیک) ته یې حواله کول دومره پیسې ووهلې ، چې د مرمرو یوه ښکلې ماڼۍ یې ځانته پرې جوړه کړه.

خلک حیران شول ، چا له هغه وپوښتل:

- او کور ګډې... دا ماڼۍ دې په څه شي جوړه کړه ؟

هغه سترګه ووهله ویې ویل:

- اخیر زه د ورږې د ماکولاتو معتمد یم.

هغه بل پوښتنه وکړه:

- نو ورږې خو یو ډیر کوچنی حیوان دی ، څومره خوراک لري ؟

معتمدوخندل ویې ویل:

- افسوس چې زه د یوې ورږې د ماکولاتو د حواله کولو دنده لرم کنې د ځان لپاره به مې اووه د مرمرو ماڼۍ جوړې کړې وې.

له هغې ورځې راهیسې ټول کوښښ کوي چې د یوې دولتي ورږې د ماکولاتو د حواله کولو مامور مقرر شي.

لیکوال: خریستوپلیتیف (بلغاریا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حیرانوونکې مېوه

د رویسلاف په نامه یوه خره یوه ورځ له یوې ښکلې کلیوالې نجلۍ سره د خپل ښښتن پټې خبرې واورېدې ، ښښتن یې هغې نجلۍ ته ویل:

- کلې ته نږدې په دغه ځنګله کې تروني لاندې یو بوټی دی ، چې حیرانوونکې مېوه لري ، که یوه شپه له ما سره هلته ولاړه شې زه به هغه حیرانوونکې میوه تاته درکړم.

خره د دغه راز په اورېدو سره له ډیرې خوشالي خپل غوږونه سره وټکول ، خو ځان یې ناخبره واچاوو. د شپې چې ټول ویده ول هغه ځان خرې ته چې مارګیتا نومېده ورساوو ، د حیرانوونکې میوې کیسه یې ورته وکړه. خر او خره له تبیلې راووتل او د ځنګله په لوري روان شول.

هغوی اصلي ځای ته ورسېدل ، خو بوټي او حیرانوونکې مېوه نه وه. په لاره کې خره د دې لپاره چې مارګریتا خفه نه شي او دی ملامت نه کړي ، مارګریتا ته یې وړاندیز وکړ چې له ده سره واده وکړي.

اخلاقي پایله:

که ښځې ته کم راغلې ، باید ژر تر ژره ورسره واده وکړې.

لیکوال: راستیسلاف دورمن- (پخوانۍ یوګوسلاویا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سمپوزیم

یوه ورځ د پکالبیکوکا په نوم ښار کې یو سمپوزیم جوړ شوی و چې موضوع یې «د جادویي هنرونو معجزه» وه.

له پرانیستونکې وینا وروسته د ښار د والي پوهاندې باربابنرا وینا پیل شوه.

پوهاندې د امازونو د قبیلو د حیرانوونکو مسئلو او له هنرونو څخه د هغوی د ګټې اخیستنې په اړه رڼا واچوله. دې وویل چې د امازون قبایلو له ځانګړو هنرونو څخه په ګټې اخیستنې سره خپل دښمنان ړندول او وروسته به یې په ډېر آسانۍ نیول.

دویم ویناکوونکي پوهاند پیانو لوچشقورت له تاریخ څخه مخکې د جادویي هنرونو د رول په اړه خبرې وکړې.

البته هغه څه یې چې د هنرونو او لویو حیواناتو دینوزاورونو چې له تاریخ د مخه یې ژوند کاوو ، وویل ټول پرې قانع نه شول.

د هغه د وینا په اتم ساعت آن ځو تنه پروفیسوران ویده ول. هغه له تاریخ څخه د مخکې انسانانو په باره کې خبرې وکړې چې څنګه یې د خپلو ښځو لپاره له مرمر ډبرو څخه هنرونې جوړولې.

کورازون ځان تریبون ته ورساوو او د ټولو تر منځ یې اعلان وکړ چې دی داسې حیرانوونکې جادویي هنرونې په کشفولو بریالی شوی دی ، چې ساری نه لري.

ده وویل تر ټولو جادویي هنرونې د ماشومانو سترګې دي ، چې په هغو کې د ټولو هغو شیانو تصویر چې دی یې په مینه او لېوالتیا وینې پاتې کېږي. مثلاً د پتنګانو ، رنګه ډبرو او ډېرو شیانو تصویرونه.

ښاغلي کورازون وروسته یوه بله عجیبه موضوع یاده کړه.

ده وویل:

- د بېوزلو او بېکارو ماشومانو سترګې کولای شي ، د قلب شوي صندوق او کارتن په منځ کې شیریني او چاکلیټ ووینې.

د ده دلیل داو ، چې ماشومان د صندقونو په منځ د شیریني او چاکلیټونو د لیدلو په وخت کې د خپلې خولې اوبه (نارې) تېروي ځکه چې دوی یې عیناً وینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زره پورې داده چې ژوري هیئت د نورو پروفیسورانو له ژورو مطالعاتو او کشفونو سره سره د سمپوزیم لومړۍ جایزه ښاغلي کورازون ته ورکړه. او د هغه کشف يې د نوروو ترکشف لوړ اعلان کړ.

لیکواله: انجیلا ګالي دویسنا (ایټالیا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه مرکه کوو؟

موږ ژورنالستان همدا چې واورو فلانی نامتو بهرنی هسپانیا ته راغلی دی ، ژر تر ژره ځان د هغه د اوسېدو هوټل ته رسوو ، په زرو نیرنګونو اوچلونوځان د هغه کوټې ته وررسوو ، صبر کوو چې له تشنابه راووزي ، هغه وخت خپله لومړۍ پوښتنه طرحه کوو:

- آیا ریښتیا د هیبرید ټاپو وزمه د نړۍ تر ټولو ښکلې سیمه ده ؟

بهرني سړي پخپله ژبه راته غورېږي:

- ارتو!... مې سنو... بامبو... تاکو...بوم.

او دا چې موږ هم د هغه په ژبه نه پوهېږو ، سمدلاسه د هغه ځواب څنګه مو چې «درک» کړی یاددښت کوو ، بیا پوښتنه کوو:

- ستاسې په نظر زموږ ښکلی هېواد هسپانیا څنګه ځای دی ؟

او هغه ځواب راکوي:

- تاتو... پاتی... ګولي... مولي...

او موږ «پوهېږو» چې مثلاً وایي «ډېر خوښ یم چې د هسپانیا ښکلې خاورې ته راغلی یم.»

وروسته پوښتنه کوو:

- له هسپانیا څخه ستاسې خوږه خاطره کومه ده ؟

بهرنی وګړی بیا پیل کوي:

- ټکونیا ایلخی نیا... تیمپا... تیمپا.

طبیعي ده چې موږ د هغه د لاسونو له حرکته پوهېږو چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په لومړي ګام کې ستاسې د افسانوي او ميلمه پالې خاورې ښکلي خلک ، سرې په هسپانيا مينوي ، زه د هسپانيا په ښکلا کې لاهو يم.

وروسته له هغه خپله ډېره په زړه پورې ژورنالستيکه پوښتنه کوو:

- آيا ستاسو لپاره چې له يوې سرې سيمې څخه راغلي ياست د هسپانيا تود لمر او شين آسمان حيرانوونکی نه دی ؟

هغه وايي:

- ګوري ، ګوري

او موږ پوهېږو چې د دوی په ژبه کې «ګوري» هو ته وايي ، طبيعي ده چې بل پوښتنه مو داده:

- ستاسې لپاره د هسپانيې کومه برخه ډېره په زړه پورې ده ؟

هغه څه چې دی وايي موږ ته لا دمخه معلوم دي.

لکه سويس او د اروپا اندلس او ګاليسيا مشهور ځايونه په هسپانيا کې د بهرنيانو د پام وړ دي. خو کيدای شي دغه سيمې بهرنيان په نورو نومونو وپېژني. په هر حال موږ د هغه مقصد درک کړی دی.

له دغو خبرو اترو وروسته د بهرني سړي خو ناست ، ولاړ او پراته عکسونه اخلو او خدای پاماني ورسره کوو. البته په پای کې هغه بيا «کومبو ، نانګو... سويسو موسيو» وايي ، چې هر احمق کولای شي د هغه مقصد درک کړي ، يعنې خوښ يم چې له ماسره مو مرکه وکړه ، د هسپانيې هېواد په دې وروستيو کې ډېر پرمختګ کړی دی.

او مسوؤل مدير زموږ د مرکې په لېدو سره پخپل پوست کې نه ځائېږي. په تېره چې مرکه ډېره دقيقه او مستنده او له عکسونو سره مل ده. نامتو بهرني سړي څه ښه خندلي او ځنګه يې له خوښې غاښونه معلومېږي.

ليکوال: الوارودی لايکلسيا (هسپانيا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډ لیکنه ستونزمنه ده

مقاله لیکونکی د ورځپاڼې د مسوول مدیر دفتر ته ورغی ویې ویل:

- په زړه پورې موضوع لرم ، غواړم د هغې په هکله درته ولیکم.

یوازې غواړم پوښتنه وکړو چې څو مخه وي ؟ اوه مخه سمه ده ؟ درې ورځې وروسته مقاله بشپړوم.

مسؤل مدیر هغه ته وکتل ویې ویل:

- البته ستاسې مقالې ته اړتیا لرو. خو د مخونو د کچې په باره کې باید خبرې وکړو.
- کمې وي که زیاتې ؟

مسؤل مدیر وویل:

- فکر کوم د دریو مخونو لپاره ځای لرو. هو په دریو مخونو کې یې ولیکئ.

مقاله لیکونکي په ناراحتي وویل:

- تاسې زه په یوه ستونزمن حالت کې اچولی یم.

مسؤل مدیر وویل:

- ډېر ښه ده ، چې د سړي مقاله لنډه وي. او هغه ولولي داسې نه چې اوږده وي او سرسري ترې تېر شي.

مقاله لیکونکي وویل:

- هو پوهېږم ، په دې هم پوهېږم ، چې لنډ لیکنه د نبوغ خور ده.
- هو ... بیخي سمه ده.
- ښه نو درې مخه وي ؟ ښه په دریو مخونو کې یې لیکم ، سره له دې چې سخت کار دی ، یوه موضوع په لنډ ډول لیکل آسانه کار نه دی. چې داسې ده نو په څلورو اوونیو کې مقاله بشپړوم ، او تا ته یې راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال: شيمون اندورسکي (پخوانی شوروي اتحاد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دموکراسي بنده

د هغه له راتلو مخکې یې په باره کې په ډېرو شیانو پوهېدم. هغه په امریکا کې ۶ کاله زده کړې کړې وې ، موږ په دې ډېر نازیدو چې له داسې یو شخص سره به وینو. د خپلو پخوانیو معلوماتو له مخې مې پخپل ذهن کې له هغه نه د فزیک ښوونکی جوړ کړی و ، خو کله مې چې ولید پوه شوم چې تیروتی یم ، ځکه چې زموږ ټولو ۶۰ کسو تصوراتو هغه ښکه چې و هغسې نه و ، تصویر کړی.

کله چې په لومړۍ ورځ ټولګي ته راغی ۵ کسه شاګردان یې له خپلو ځایونو راجګ کړل پوښتنې یې ترې وکړې.

هغه پنځه واړه د ټولګي منځني او نالایقه شاګردان ول ، ویې ویل:

- قربان دلته یې درس نه دی ورکړی.
- چا موږ ته څه نه دي را زده کړي.

زموږ نوي ښوونکي له ساړه اسویلي وروسته وویل:

- عجیبه ده ، ښکه تاسې تر دې ټولګې را رسیدلي یاست ؟

د نوي ښوونکي دې خبرې حسن کچالو خواشینی کړ ، ویې ویل:

- خو قربان تاسې سوالونه له داسې ځایه انتخاب کړي دي ، چې موږ هیڅ نه دي لوستي.

نوي معلم نوري ته مخ ورواړاوو ، ویې ویل:

- مهرباني وکړئ ، تاسې راشی.

نوري چې د داسې یوه کار تمه نه لرله ، په کړاو د تختې مخې ته ودرېد ، زموږ نوي ښوونکي وپوښت:

- تاسې چې د ښوونځي له دورې د فزیک په باره کې چې په هر څه پوهیږئ ، راته ویې وایاست.

نوري یوازې وکړای شوای چې د فزیک نوم واخلي ، وروسته له هغه یې رنګ والوت ، چوپ ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ نوي ښوونکي د فزيک له درس ورکولو پرته بله علاقه هم لرله او هغه داوه چې په هر شکل کېږي د فزيک تر څنګ موږ ته د دموکراسي درس هم راکړي. ښه مې ياد دي لا تر هغه وخته چا د دموکراسي نوم هم نه و ، اورېدلی ، لا زموږ د هېواد روښنفکرو هغه کوله چې دويټامينونو نومونه زده کړي...!

البته دا خبره مې ځکه وکړه چې پوه شئ دموکراسي د ويټامينونو له راتلو کلونه وروسته زموږ هېواد ته راغله...!

موږ د خپل نوي ښوونکي نوم ځکه دموکراسي ايښی و ، چې د فزيک د ساعت نيم وخت يې دموکراسي ته ځانګړی کړی و ، ده هيڅ وخت نه غوښتل له امريکا او د هغې له دموکراسي څخه سترګې پټې کړي.

موږ ۶۰ کسه په هغه تحصيلي کال په فزيک پوه نه شوو ، په دموکراسي دومره پوه شوو ، چې پخوا به مو يو بل ته آهای ، آو ، اوهو غږ کاوو اوس ورته ښاغلی اوقربان غږ کوو. بله دا چې د درس په وخت کې د ټولګي کړکۍ او دروازه خلاصې پرېږدو! د فزيک د درس په وخت کې به يې د دموکراسي له خاطره ويل:

- ښاغلو که هوا توده وي ، کړکۍ به پرانيزو ؟

او هغه وخت و ، چې د ۶۰ کسو شاګردانو ګډ آواز پورته کېده:

- خلاصې به يې کړو قربان... خلاصې به يې کړو.

خو زياتره وخت به د ټولګي له پايه چيغې را پورته کېدې:

- بندې يې کړئ قربان... بندې کړئ.

او په دې پسې به زموږ په ټولګي کې د دموکراسي ګډوډې پيليده:

- قربان خلاصې يې کړئ.
- قربان بندې يې کړئ.
- ګرمي پاخه کړو.
- له يخني سټ شوو.

نوري او شوکت رخت مينځونکی به تل د دغې دموکراسي په مخالف لوري کې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوکت به که نن ویل دروازه یا کړکۍ خلاصې کړئ سبا به یې د دې عکس کار کاوو ، نوري به یې له دې چې کوم پروګرام ولري د ده په مخالف لوري کې ولاړ و.

خو کله کله به بیا دغه دواړه سره جوړ شول ، په ګرمي کې به یې دروازه او کړکۍ بندولې او په یخنۍ کې به یې خلاصې پرېښودې.

د دروازې او کړکیو د خلاصولو یا تړلو لانجې به د ټولګي نیم وخت نیو. که به هلکان چوپ ول ، نو د دموکراسي له خاطره به یې ویل:

- هیله کوم یو تن شاګرد دې د هغو کسانو په استازیتوب چې د کړکیو د خلاصولو پلویان دي ، ودرېږي او په دې موضوع دې رڼا واچوي.

دلته وه چې دموکراسي به شروع کېده او د غوصې په وخت کې به مو یو بل ته د خره او ... خطاب کاوو ، ده به ویل:

- ښاغلو په دموکراسي کې خر او داسې شیان نه لرو ، ښه ده چې یو بل ته ښاغلی ووایاست.

هغه څو څو واره موږ ته د ا نصیحت کړی و. موږ به هم په عادي حالاتو کې یو بل ښاغلی محمد ، ښاغلی احمد ، ښاغلی حسن او ښاغلی حسین بلل. خو که به په قهر کېدو نو دوستان به مو د خره له لقبه نه محرومول.

موږ به کله چې پوهېدو چې ښاغلی بهجت له ټولګي وتلی ،له شا به مو چیغې پسې وهلې:

- ژوندۍ دې وي دموکراسي.

زموږ د فزیک درس پر هغه کال دا ډول تېر شو او بهجت ډاډه و ، چې دموکراسي یې موږ ته په ښه ډول راښودلې ده.

ښاغلي بهجت غوښتل خپل دغه بریالیتوب د لیسې غټانو ته هم وښیي ، له ورځو څخه یوه ورځ یې وویل:

- هلکانو ځانونه تیار کړئ د شنبې په ورځ غواړم په لوی سالون کې د دموکراسي په اړه سیمینار ورکړم ، تاسې باید هلته په ښه ډول ترې دفاع وکړئ.

زموږ په ټولګي  کې درې ډلې د علم په زده کړه بوختې وې ، د بهجت په وړاندیز د هر ې ډلې تکړه کسان د دې کار لپاره وګومارل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شنبې په ورځ ټول شاګردان سالون ته راغلو ، ښاغلي بهجت زموږ د لیسې له ښوونکو او زده کوونکو پرته خپل ملګري او د نورو ښوونځیو ښوونکی هم راوستي ول ، د ښاغلي د میلمنو شمېر ۵۰۰ ته رسېده.

نوري او شوکت رخت مینځونکي د سالون په دوارو خواوو کې مورچلونه نیولي ول. تور احمد او محمد موش ګیر هم خپل پلویان راټول کړي ول ،د سالون په یوه کونج کې په انتظار ناست ول ، ټول کارونه جوړ شوي ول.

په دغه سالون کې چوپتیا خوره وه ، زما په ګومان د لیسې په ټول تاریخ کې دا لومړۍ ورځ وه ، چې سالون یې داسې بې غږه غوړه و.

له لږ ځنډ وروسته ښاغلی بهجت تریبون ته ولاړ او دا مرګونې چوپتیا یې ماته کړه. ښاغلي بهجت د دموکراسي او د هغې د ګټو ، دموکراسي او ښوونه او روزنه ، دموکراسي او د امریکایي ټولنې پرمختګ ، دموکراسي او د بدن روغتیا په اړه اوږدې خبرې وکړې ویې ویل:

- ګرانو دوستانو اوس ستاسې پام د لیسې د دوو ډلو زده کوونکو جروبحث ته چې دموکراسي یې په ښه ډول زده کړې را ګرځوم.

نوري په ځنګ ووهلم پوښتنه یې وکړه:

- او هو... ته د کومې خوا یې ؟

- زه د هغو کسانو پلوی یم چې وایي خلاصې دې وي.

- ډېر ښه چې هیر دې نه شي... د خپل ځنګ کس ته دې هم ووایه چې ځان ورک نه کړي.

موږ بیخي تیار و او ښه پوهېدو چې د دغه بحث له جوړېدو د ښاغلي بهجت مقصد دا دی چې د لیسې مدیر وپوهوي ، ځکه مدیر له دموکراسي او دې ډول کلیمو سره جوړ نه و.

البته په دې خبره هغه وخت پوه شوي و ، چې څو ځله مو د مدیر آواز له ادارې څخه اوریدلی و ، چې ویل یې:

- بابا دموکراسي لا څه ګندګي ده ؟

اوریدلي مو ول ، چې یو ځل ښاغلي بهجت په غوصه له ټولګي ووت ، موږ ټولو چیغې کړې:

- ژوندۍ دې وي دموکراسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي ستاسې سترګې دې بده ورځ و نهويني لا څو ثانيې تيرې نه وې چې ښاغلی مدير په قهر ټولګي ته راننوت ، نوري يې کلکه لغته وواهه ، خو نوري چې د مدير څلور برابره وزن درلود د دموکراسي د نه فتح کېدونکې کلا په څېر پخپل ځای ټينګ ولاړ و ، يوازې ښاغلی مدير دری څلور قدمه شاته ولاړ ، له دېوال سره سخت ولګيده.

ښاغلی مدير داخل د شوکت رخت مينځونکی خواته ورغی چې هغه تر خپلو لغتو لاندې کړي ، خو وار له واره يې پام شو چې شوکت تر نوري کم نه دی ، نو د خپلې غوصې د تسکين لپاره د يو بل کمزوري شاګرد په لټه کې شو دغه بدمرغي زما مړه موړک په برخه شوه.

مدير وهلم او ما سورې وهلې:

- ښاغلي مدير په خدای زه نه وم ، زه په دموکراسي له خلاصولو بندولو پرته په بل څه نه يم پوه شوی.

دوو دريو ښوونکو ايله بيله ترې خلاص کړم. پخپلو غوږو مې واورېدل چې مدير ويل:

- زموږ د بيګناه شاګردانو فکرونه مسموموي.

د دغو جريانونو به ليدو پوهيدو چې د مدير او ښاغلي بهجت تر منځ په پټه او ښکاره سره جګړه روانه ده.

موږ ښه پوهېدو چې په پای کې يو د دې سړي جګړې ګټونکی دی.

خو زړه مو ډېر غوښتل چې ښاغلی بهجت بريالی شي ، ځکه که هغه بريالی شي نور ښوونکي هم د ده په پله ځي او ټول تعليمي کال به مو د کړکيو په خلاصولو او تړلو تېر شي.

ښاغلي بهجت له وينا وروسته يو سپين ږيري تربيون ته بوت ، ترې ويې غوښتل چې د بحث وړ موضوع غوره کړي.

سپين ږيري موږ ته مخ راواړاوو ويې ويل:

- زامنو تاسې نه دې اوريدلي چې وايي سليم عقل په روغ بدن کې وي. دغه حکيمانه خبره يوه يوناني ستر سړي کړې ده ، اوس له تاسې غواړم په دې اړه بحث وکړئ چې دا خبره سمه ده که غلطه.

ښاغلي بهجت له سپين ږيري مننه وکړه و موږ ته يې مخ را واړاوو ، وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیله کوم د هغو کسانو استازي چې وایي دا خبره سمه ده اود هغو کسانو استازي دي چې وایي دغه خبره سمه نه ده تربیون ته راشي ، هر یو دې د بل د نظر په ردولو سره خپل دلیلونه ووایي ، البته دغه بحث د دموکراسي په چوکاټ کې په آزاد ډول ترسره کېږي.

لکه څنګه مې چې د مخه له خپلو دوستانو سره خبرې کړې وې ، په لوړ آواز مې چیغې کړې:

- اجازه راکړئ چې خلاصې یې کړو.
- حاضر کسان زموږ په خبرو پوه نه شول ، د پلان له مخې باید مقابل لوري هم چیغې کړې وای.
- اجازه راکړئ چې بندې یې کړو.

موږ په دا یوه کال د فزیک په درس کې د دموکراسي په هکله ایله د کړکیو خلاصول او تړل زده کړي ول.

بیا مې چیغه کړه:

- خلاصې یې کړو.

زما له اوازه وروسته ، یوه وحشتناکه چیغه را پورته شوه:

- وایم تړویې...

له دې غږ وروسته د هلکانو کښونکې چیغې آسمان ته پورته شوې:

- خلاصوو یې.
- تړو یې.

ښاغلي بهجت متوجه شوی و ، چې لومړی چیغه ما پورته کړې ، راته ویې ویل:

- اوس نو تربیون ته راشه او په دې اړه خپل نظر څرګند کړه.

ما چې د مخه دا نه وه سنجولې زړه نا زړه تربیون ته ولاړم.

ښاغلي بهجت وپوښتلم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښاغلی اکبره ستاسې په آند آیا سلیم عقل په سالم بدن کې دی ؟
- قربان اجازه راکړئ خلاصې یې کړو.

ما لا دا خبره پای ته نه وه رسولې ، چې د کړکیو د تړلو پلویانو چیغې کړې:

ښاغلو اجازه راکړئ بندې یې کړو.

ښاغلي بهجت په ناراحتي وویل:

- ښاغلي اکبر پوښتنې ته ځواب ورکړئ آیا سلیم عقل په سالم بدن کې دی ؟ زه د دې پوښتنې په مقابل کې بیخې هک پک وم ، دا نورو پخپلو منځوکې خبرې کولې ، تر څو چې یو چاغ سړی د هغوی له مینځه راپورته شو ، وې ویل:
- بې له شکه د هر چا لپاره لومړی روغ بدن ضرور دی ، ځکه د یو ناروغ کس...

یوه بل د دغه سړي خبره پرې کړه ، وې ویل:

- که ستاسې خبره سمه وي نو بیا باید دا د غښتلو نیولو او تورې وهلو ټول اتلان پوهان او پروفیسوران وای.

د کنفرانس ګډونوال هم زموږ د ټولګیوالو غوندې له یو بل سره په ناندریو ول. ښاغلي بهجت بیا له ما وغوښتل چې خپل نظر څرګند کړم.

له ناچارۍ مې وویل:

- قربان څو شیبې د مخه مې وویل چې زما په عقیده باید کړکۍ خلاصې کړو.

په ښاغلي بهجت مړې خولې راماتې وې ، نه یې شوای کولای د کړکیو د تړلو خلاصولو موضوع له نوې طرحه شوې موضوع څخه بېله کړي ، ما هم له وخته ګټه واخیسته پسې زیاته مې کړه:

- دا چې اوس د پسرلي موسم دی د هوا د تودوخې له امله مجبوریو کړکۍ خلاصې کړو. البته آزادې هوا ته اړتیا لرو او ستاسې په اجازه به یې خلاصې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي بهجت د کړکیو د تړلو د پلویانو استازی احضار کړ ، هغه ښاغلي صمد و ، صمد چې د تربیون شاته ودرېد ، وې ویل:

- زه د اکبري له نظر سره بیخي مخالف یم.

ښاغلي بهجت سوکه وویل:

- ښاغلی صمد تاسې ښه پوهېږئ چې په دموکراسۍ کې اکبري نه لرو ، ښه به وي هغه ته د ښاغلي اکبر خطاب وکړې.

- ډېر ښه خو زه له دغه ښاغلي هلکي سره په یوه نظر نه یم.

ما په غوصه  وویل:

- صمد جانه له خولې سره دې پام کوه ، خپله خبره وپیژنه ، زه خپل نوم لرم او نوم مې هلکی نه دی.

ښاغلي بهجت وویل:

- ښاغلی اکبر! صمد جان مه وایه ښاغلی صمد ووایه.

- ښه ښاغلی یې بنیاده صمده ، ته له ما سره مخالف یې ؟

ښاغلي بهجت وویل:

- داسې مه ورته وایه ، دا د دموکراسي د اصولو مخالف کار دی.

په دې وخت کې ګډون وال هم په دوو ډلو ووېشل شول ، یوې ډلې د سلیم عقل او دې بلې ډلې د روغ بدن پلوي کوله ، په دې ډول په سالون کې د دوو موضوعګانو په اړه بحث پیل شو.

په داسې حال کې چې مورږ د کړکیو د پرانستلو او تړلو پر سر جنجال جوړ کړی و ، دا نورو د سلیم عقل او سالم بدن خبره سره اړوله راړوله ، تر څو یې چې ستوني ورسره مرسته کوله ، چیغې یې وهلې.

ښاغلي نوري چیغې وهلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- باید خلاصې یې کړو.

تور حلمي نارې کړې:

- باید و یې ترو.

دموکراسي بهجت چې د ګډونوالو د چیغو او نارو به منځ کې هک حیران ولاړ و ، له صمده وپوښتل:

- ولې باید کرکی وترو ؟

د صمد چې څه په نظر ورتلل اود کرکیو د ترلو لپاره یې لازم بلل د فزیک ښوونکي ته یې وویل.

دغه دموکراتیک بحث او جنجال اوج ته رسیدلی و.

ما په زوره چیغې کړې:

- آهای خره حلمیه ولې ولاړ یې ؟

خو بېرته ژر را به هوښ شوم ، پام مې شو چې د دموکراسي له اصولو څومره لیرې شوی یم. تور حلمي بې له دې چې پوه شي ، زه له خپلې خبرې پښېمانه یم ، زما ګریوان یې ونیو ، چیغې یې کړې:

- خر پخپله یې ، خر ستا پلار...

په یوه شېبه کې د لیسې تالار د تن په تن جګړې په صحنه بدل شو ، تر څو مو چې کولای شوای یو بل مو په څپېړو او سوکانو ووهل. د خدای شکر دی چې رخت مینځونکي شوکت اونوري منځګړتوب وکړ او زموږ جنجال یې پای ته ورساوو. د خلاصو کړکیو پلویانو په زوټه زوټه چیغې وهلې او د کړکیو د خلاصې پرېښودو جدي غوښتنه یې کوله او د کړکیو د ترلو پلویانو پخپله غوښتنه ټینګار کاوو.

د نورو راغلو حالت هم ترموږ ښه نه و ، نارو سورو یې غوږونه کڼوول. تر څو چې زموږ د مدیر بوږنووکې غږ چې تر هغه وخته مو له هغه داسې آواز نه و ، اوریدلی زموږ غوږو ته راورسېد.

مدیر وروسته له هغه چې موږ ته ښکته پورته وکتل ما ته وویل:

- ښه دلته څه خبره ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی بهجت چې کرتۍ يې چرموړل شوې او کميس يې خيرې شوی و ، په يوه کونج کې ولاړ و او څه يې نه ويل. د ليسې تالار يوه سوځېدلې ځای ته پاته کېده ، ما چې د ويلو لپاره څه نه لرل ، يوازې مې وکړای شول ووايم:

- قربان ، تور حلم ، قربان رخت مينځونکی شوکت قربان...

ښه مې په ياد دي چې په دې وخت کې مې د ليسې د مدير په جانانه څپېړه په سترګو توره شپه شوه. له هغه وروسته بهجت بلې ليسې ته تبديل شو ، کارونه خپل عادي حالت ته را وګرځېدل.

له هغې ورځې وروسته چې مدير ټولګي ته راننوزي ، چې کرکۍ خلاصې ويني ، چيغې کړي:

- دموکراسي بنده ، کړکۍ وتړئ.

او هر وخت يې چې بندې ويني د «دموکراسي بنده» جملې په ويلو سره يې د پرانستلو امر کوي.

اوس ښاغلي صمد ، تور حلمی ، رخت مينځونکي شوکت او ښاغلي نوري زموږ د هېواد له مشهورو سياستوالو څخه دي ، تاسې هغوی ښه پېژنی ، ما يې په دې مقاله کې نومونه بدل کړل.

خو په دې منځ کې زه هيڅ شی هم نه شوم. څو ورځې مخکې مې په واټ کې ښاغلی بهجت وليد ، له جوړ په خير وروسته مې د تېر وخت په باب ترې وپوښتل. د هغه اصلاً څه په ياد نه ول ، يوازې په نيولې غږ يې وويل:

-دغه هېواد او ملت تر هر څه ړومبی د دموکراسي ښې روزنې ته اړتيا لري.

ليکوال: عزيز نسين (ترکيه)

---

يادونه: دغه طنز تر ما د مخه ښاغلي احسان آرينزي او عزت الله پيژاند پښتو ته را اړولي و ، چې ما له دوی وروسته وژباړه او له ژباړلو وروسته خبر شوم چې دغه طنز لا دمخه ژباړل شوی دی.

«ع. سحر»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**